# ژبدود او لیکدود

(اړین لوستونه)

لیکوال

کامران منګل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کتاب پېژندنه :**

**د کتاب نوم : ژبدود او لیکدود (اړین لوستونه)**

**لیکوال : کامران منګل**

**کمپوز او اوډون: شېراغا هېوادمل**

**خپرندوی : په خپله لیکوال**

**تیراژ : ۱۰۰۰ ټوکه**

**چاپځای : کابل - افغانستان**

**چاپکال : ۱۳۹۶ هـ ش (۲۰۱۸م)**

**فېسبوک پتې:**

www.facebook.com/kamran-mangal

www.facebook.com/shir-agha-hewadmal

برېښنا لیک:shiraghahiwadmal@gmail.com

داخځ په ښودلو سره د کتاب د خپرولو ربښته ټولو پښتو پالو ته خوندي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**هغوی ته،چې د ژبې پر بډ د وبال او تنګلید پروا نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک

**لړليک..................................................مخ**

(سريزه).................................................۱

**لومړی څپرکی**

ژبه.................................................. ۲

پښتو ژبه............................................ ۲

د ژبې ارزښت...................................... ۲

پښتو ابېڅې......................................... ٦

**دويم څپرکی**

مورفيم.............................................. ۹

تاړي................................................. ۱۰

نوم................................................... ۱٦

کړونه............................................... ۱۸

ستاينوم............................................. ۲۹

نومځری............................................ ۳٦

کړول................................................ ۳۹

ستربل او وستربل................................. ٤۰

اړيکوييکي......................................... ٤۳

**درېيم څپرکی**

(نرمه ی + بېلګې ................................ ٤٦

(اوږده ي + بېلګې .............................. ٤۹

(ځرګنده ي + بېلګې ............................ ٥٤

(لکۍ واله ۍ + بېلګې .......................... ٥۷

(همزواله ئ + بېلګې ........................... ٦۱

(نرمه او که اوږده ي .......................... ٦۲

(نرمه ی او که لکۍ واله ۍ .................. ٦۳

(لکۍ واله ۍ او که همزواله ئ ............... ٦٤

- (دې- دی-ده-دي ............................... ٦٥

(په کومو حالتونو کې د نرينه او ښځينه نومونو ........................ ٦۷

(د" د "او" له "سربلونه ...................................... ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کـــړاوړون ........................................................ ۷۳
(د یېګانو کومه بڼه سمه ده؟........................................... ۷٦
(کله یو او کله دوه واوونه؟........................................... ۷۹
(لنډ توپیرونه ....................................................... ۸۱
(په او پر توپیر + بېلګې .................................. ۸٤
(د په کې او پکې توپیر + بېلګې..................................... ۸٦
(د په خپله او پخپله توپیر + بېلګې .................................. ۸۷
(د په خوا او پخوا توپیر + بېلګې..................................... ۸۸
(د له خوا او لخوا توپیر + بېلګې..................................... ۸۹
(د چېرې او چېرته توپیر + بېلګې..................................... ۹۰
(د هم داسې او همداسې توپیر + بېلګې ................................ ۸۲
(که نه او کنه توپیرونه .............................................. ۹۳
ستاینومونه په ی،ې او ۍ ............................................ ۹٤
د پښتنو ټبرونه...................................................... ۹۷
۰کله په یز او په یځ.................................................. ۹۷
(نومونه په ځ ........................................................ ۹۸
(نومونه په څ ....................................................... ۱۰۰
(نومونه په ز ........................................................ ۱۰۱
(نومونه په ښ ....................................................... ۱۰۲
(نومونه په ړ ........................................................ ۱۰۳
(نومونه په ژ........................................................ ۱۰٤
(نومونه په ڼ........................................................ ۱۰۵
سم ځوابونه،کړاونه................................................... ۱۰٦
وییپانګه............................................................ ۱۱۹
اخځلیک ............................................................ ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

پښتو ژبه چې د آريايي ژبو څخه ګڼل کېږي يوه له بډايه او لرغونې ژبه ده،چې د منځته راتلو مخينه يې زرګونو کلونو ته رسېږي او په هر مهال ورته وييونکو يې چوپړ او تر مونږ يې ژوندۍ را رسولې ده
او زمونږ د نېکونو د چوپړونو پايله ده،چې نن مونږ د يوې ژوندۍ ژبې څښتنان يو. د کړکېښن په اوږدو کې پښتو له ځلېدا او ځوړتيا سره د وخت واکمنو مخ کړې ده،خو له ښه مرغه د ژمنو پښتنو د هڅو او بلهاريو له لامله پښتو خپل ټيکاو او پايښت وساته او نن د ژونديو ژبو په ليکه کې خپله ځلا نورو ته ښيي،خو دا بهير بيا هم له ستونزو او ننګونو خالي نه دی،بلکې پر وړاندې يې ډېرې نادودې اوس هم شتون لري،چې د هڅو او زيار له کولو پرته يې هوارول ستونزمن دي.
د کره پښتو د زده کړې په پار د ښځانو زده کړه او په ليکنې کې يې په بشپړه توګه کارول هغه څه دي،چې نن يې ارزښت ټولو ته جوت دی او هغوی چې دې برخې ته يې پام نه دی کړی نن يې په ليکنو کې له ورايه ستونزې جوتېږي او د ليکنې نيمګړتيا يې ټولو ته برېښي. ددې کتاب لوستل به له لوستونکو سره مرسته و کړي،چې د ښځانو د ارزښت او کارونې باندې و پوهېږي او په ليکنيزو توپيرونو يې ځانونه پوه کړي،څو يې د غبږيز ورته والي په اړخ کې يې تر ډېره ستونزې ځواب شي چې دا غبږيز توپيرونه د(که نه)او (کنه)، (پخوا) او (په خوا )او په ډېرو نورو برخو کې ځېړل شوي دي،چې لوستل يې ګټور او په ليکنو کې يې د توپيرونو پېژندل ډېر اړين دی او دا ننښېر(اثر) مو د ښې ليکنې لوري ته ځيروي،چې د ليکنې ژبه يې ساده او د مهال له اړتياوو او د کره پښتو پالنې د بهير سره سمون لري.
پښتو ژبه زمونږ پېژند دی،نو پالنه يې د ټولو پښتنو ايماني دنده ده.څو خپله ژبه د سيالي او ټولنه کې د لا غوړېدو جوګه کړو.

په پښتني مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## ژبه

ژبه په رښتينې بڼه يوه ټولنيزه،کلتوري ښکارنده (پديده) ده او په ټوليزه توګه د ټولنې د غړو ترمنځ هر ډول وسيله او اړيکې ژبه بلل کيږي که دغه اړيکې په اشاروي توګه دي او يا د نښو له لارې او يا د يو لړ ويزو او اوريزو سمبولونو يوه ټولګه ژبه بلل کيږي،چې هر يو يې زمونږ د ذهني انځور استازيتوب کوي.

**پښتو ژبه:**

د ګران هېواد افغانستان په خاوره کې دننه او ترې بهر نورو سيمو کې د ارکيالوژيکي څېړنو او پلټنو په پايله کې څېړونکو ته دا جوته شوه،چې افغانستان د لرغونو آريايي توکمونو زانګو او ټاټوبی دی،چې پښتو هم د آريايي ژبو له ډلې څخه ژوندۍ او بډايه ژبه بلل کيږي.

**د ژبې ارزښت:**

د يوې ژبې د پاللو او ورته چوپړ کولو ارزښت په دې کې دی،چې همدغه ژبه خپلو وييونکو ته پېژند ور ببښي او که و ګورو د نړۍ د ډېری توکمونو نومونه د هغوی ژبو پورې اړوند دي،چې په دې برخه کې له پښتو ژبې نه د پښتون توکم نوم رېښه لاسته راځي،له عربي څخه د عربانو،له انګرېزي څخه د انګرېزانو او ډېری نور...چې دلته يې يادونه ګرانه ده،خو دا رښتيا راته جوتوي چې له ژبې پرته يو توکم خپل پېژند او ژوند له لاسه ورکوي او دننۍ نړۍ ډېری توکمونه پر نورو د برلاسي وسيله ژبنی يرغل ګڼي،چې له ځانه سره کلتور،دودونه ملي نګېرنې او وياړونه له منځه وړي او يو ولس په اسانۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه ځي،چې ددې بدمرغۍ د مخنيوي لپاره د پښتو پاللو ته ډېره اړتيا نګېرل کېږي.

**د ژبې اړخونه:**

ګړنۍ ژبه .... زبان ګفتاري

ليکنۍ ژبه ..... زبان نوشتاري

**هره ژبه يوه ګړنۍ او يوه کره ليکنۍ بڼه لري.**

ګړنۍ ژبه ډېر بېلابېل ډولونه لري، چې ګړدودونه ورته ويلی شو .ياده ژبه په ورځني او کورني ژوند کې د ټوليزو خلکو په منځ کې کارول کېږي .ګړنۍ ژبه، څنګه چې يې له نومه جوتېږي، د ګړېدو (غږېدو) يا خبرې کولو پر مهال کارؤل کېږي .د هرې لرې سيمې ګړنۍ ژبه وينګيز(تلفظي) توپير لري. موږ چې وايو، هر کلومتر ژبه کې بدلون راځي .په ليکنۍ يا کتابي ژبه کې ګړنۍ يا ګړدوديزه بڼه نه کارول کېږي، پرته له استوزو(مسېجونو او چټونو)څخه چې هلته يې ځينې و ګړي کاروي.

ادبي/ کره ژبه بيا ډېری ليکنۍ يا کتابي ژبه وي .نومورې ژبه د ژبپوهنې پر بنسټ منځ ته راځي او د ټولو ويونکو/لوستونکو لپاره يؤ ډول وي .کره ژبه له دوو اړينو برخو څخه جوړه ده، چې يوه يې چې يوه يې معياري ليکدود لو بل يې ژبدود،په بله وينا کره پراخه ژبه بايد د ليکدود او ژبدود له مخې سمه وي .ادبي/ کره ژبه د ښوونځيو، د کتابتونو، د رسنيو، د ادارو، د دوترونو، د اقتصاد، د ټکنولوجۍ، ساينسپوهنې ، درملپوهنې او دپوهې د ټولو برخو ژبه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Manner of Articulationپه وتونځي کې د غږ د ادا ډول Plosive تم
Fricative موښلی
Affricate تم موښلی
Approximant نسبي تقريبي
Lateral اړخيز
Trills رپېدونکی/رپاند
Tap and Flap ترپ او پرپ
Nasal پزيز/سپېړميز
Lateral Fricative اړخيز موښلی
Lateral Approximant اړخيز نسبي تقريبي
Place of Articulationد غږ وتونځی
Bilabial شونډيز/غبرګ شونډيز
Labiodental شونډغاښيز
Dental غاښيز
Alveolar ورييز
Postalveolar شاورييز
Retroflex غبرګژبيز
Palatal کلک تالوييز
Velar نرم تالوييز
Uvular ژبۍ ييز
Pharyngeal فرنجيل/ پښتو ژباړه نه لري
Glottal ستونيز
voiced غږن
unvoiced ناغږن
vowel خپلواک غږ
consonant بېواک غږ
diphtong غبرګغږ
څ= ورييز، تم مښلی، ناغږن، بېواک
ځ= ورييز، تم مښلی، غږن، بېواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښ= کلک تالوییز، مښلی، ناغږن، بېواک**

**خ= نرم تالوییز، مښلی، ناغږن، بېواک**

**ږ= کلک تالوییز، مښلی، غږن، بېواک**

**ڼ= غبرګژبیز، پزیز، غږن، بېواک**

**ټ= غبرګژبیز، تم، ناغږن، بېواک**

**ډ= غبرګژبیز، تم، غږن، بېواک**

**ړ= غبرګژبیز، نسبي تقریبي، غږن، بېواک**

خپلواک غږونه هغه غږونه دي، چې د دوی د وینګ یا ادا په وخت کې د هوا جریان په خوله کې له هېڅ ډول خنډ سره نه مخامخېږي - یانې په پوره ډول ازاد وي.

**خپلواک غږونه:**

**زور ه a**

**زورکی ه ə**

**اوږد و o**

**لنډ و u**

**ا ā**

**اوږده ې e**

**څرګنده ي i**

بېواک یا کانسوننټ غږونه هغه غږونه دي، چې د دوی د ادا پر وخت د هوا جریان خنډېږي - یانې د هوا جریان پر وړاندې خنډ رامنځته کېږي.

**بېواک غږونه:**

چ/ج/خ/څ/ځ/غ/هـ/ګ/ډ/د/ک/م/ن/ڼ/ت/ټ/ل/ب/پ/ی/س/ش/ښ/و/بېوا ک و (ؤ)/ر/ړ/ږ/ژ/ز + (ح/ف/ث/ق/ص/ض/ذ/ط/ظ)

**غبرګغږونه:**

**ay > ی : سړی، نری (زور + ی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**āy > ا + ی : ځای، چای**

**əy > ۍ/ئ : ډوډۍ، راشئ (زورکي + ی)**

**āw > ا + و : کړاو، پړاو**

**oy > اوږد و+ ی: زوی، لوی**

**uy > لنډ و + ی: خوی، بوی**

**ew > ې + و : دېو، غرېو**

**iw: > ي + و : تريو**

**aw: > زور + و : کنډو، پلو، یو**

## پښتو آبېڅې

آ،ا،ب،پ،ت،ټ،ج،چ،خ،څ،ځ،د،ډ،ر،ړ،ز،ژ،ږ،س،ش،ښ، غ،ک،ګ،ل،م،ن ،واو (اوږد واو لکه:مور،خور،ورور،تور) او (لنډ واو؛ لکه:زوم، پښتون، سمون)، ه،ی،ي،ې،ئ،ۍ

ځینې توري،چې په عربي وییونو کې کارېږي او نوره عربي توري دي؛ لکه:ث ، ح ،ذ,ص,ط,ظ,ع,ف,ق.

پر پښتو آبېڅې وییونه:

**آبېڅې الفبا**

اوڅار

برېځر

پانګه

تکړښت

ټاکل

جوله

چوپړ

خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څانګه
ځړوبی
درنښت
ډنډ
ریبځ
ړوند
زر څانګه
ژبه
ږلئ
سولمن
شال
ښکلی
غورځنګ
کلی
ګانده
لوښه
مړوند
نوښت

واو:
اوږد واو لکه:خور،مور،تور
لنډ واو:زوم،پښتون،سمون
هیله

یېګانې:سړی(نرمه ی)،ښېرا(اوږد ې)،سړي(ښرګنده ي)،کړکۍ(لکۍ واله ۍ)،
راشئ چې امر دی(کړواله ئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښتو ژبې نږه توري:**

ټ،څ،ځ،ډ،ړ،ږ،ښ او ڼ دي.

ب،پ،چ،ژ د پښتو او پارسي ترمنځ گډ دي.

عربي نږه توري چې په عربي وييونو كېكارول كيږي.

ث،ح،ذ،ص،ض،ط،ظ،ع،ف،ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

## مورفيم

د يوې ژبې تر ټولو کوچنی مانيز توکی يا عنصر دی، چې له دوو يا ډېرو فونيمونو يا غږونو جوړ وي .

په ټوليز ډول مورفيمونه په دوو ډلو وېشل کېږي، چې يو ډول يې خپلواک او بل ډول يې ناخپلواک مورفيمونه دی.

### خپلواک مورفيم :

دا ډول مورفيمونه آزاد وي او په غونډله (جمله (کې يواځې او له يوې ځانګړې مانا سره راتلای شي لکه کتاب، هلک، غر او داسې نور .

### ناخپلواک مورفيمونه

هغه مورفيمونه دي.چې خپلواکو مورفيمونو پورې تړل کېږي او هغوی مانا بدلوي .ناخپلواک يا هم تړلي مورفيمونه که چېرې يواځې په غونډله کې راشي، نو کومه ځانګړې مانا نه ورکوي.

د روښانولو لپاره يوه بېلګه:

هلکان :دغه نوم له يو خپلواک مورفيم" هلک "او له يو ناخپلواک مورفيم "ان "رغېدلی، چې هلک ډېرګړی (جمع) څرګندوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تاړی:

څنګه چې يې له نوم جوتيږي، يو تړلی يا ناخپلواک مورفيم دی، چې نومونو پسې تړل کيږي او يو نوې مانا لرونکی نوم پنځوي.
تاړی د نوم څرنګوالی، نوږی(جنس) او عدد ټاکي .تاړي په ټوليز ډول په دوو ډلو وېشل کيږي او هغه مختاړي او وروستاړي دي.

**وروستاړي:**

دا هغه تاړی دی، چې له يوې کليمې سره په پای کې نښلول کيږي او ريښيز نوم له نوې مانا سره راوړي .ځينې وروستاړي چې يو کړ پسې وتړل شي، نو يا يې فاعلي او يا يې نوميزه(اسمي)بڼه ټاکي .که ځينې وروستاړي نومونو پسې وتړل شي، نو ستاينومونه ترې جوړوي .

**١ (لاندېني فاعلي وروستاړي دي او په کړنه دلالت کوي :**

**ونی** :ننوونی (چڼونی)، سپينوونی(چاکو ډوله آله، چې له مېوو او سابو پوستکی ليرې کوي)

**ونکی/ وونکی / ونکې/ وونکې** :شنونکی، ليدونکی، ښوونکی، کوونکی (چې په پای کې يې اوږده ې وي، بيا يې ښځينه بڼه څرګندوي)
**ګر** : بريدګر، کروندګر، کوډګر

**اند(ه):**انځوراند(رسام)،الوتاند(پيلوټ) که ه زور ورزيات شي، نو بيا يې ښځينه بڼه څرګندوي

**وال( ( ه):** ولسوال، وسلوال، مينوال – – که ه زور ورزيات شي، نو بيا يې ښځينه بڼهجوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوی( ه):** ساتندوی، څارندوی (پوليس) – – که ه زور ورزيات شي، نو بيا يې ښځينه بڼه په اسانۍ سره پېژندل کيږي.
**ې :** د هغو ښځينه" فاعلي "نومونو په پای کې راځي، چې نرينه بڼه يې په نرمه ی پای ته رسېدلې وي.

**ي :** د هغو نرينه" فاعلي "نومونو ډېرګړي (جمع) لپاره راځي، چې په نرمه ی پای ته سرېدلي وي لکه( سړی)يو – (سړي) ډېر.

**ۍ :** د هغو ښځينه نومونو په پای کې راځي، چې نرينه بڼه يې په نرمه ی پای ته رسېدلې وي لکه زمری (نر ) – زمرۍ (ښځه)
داسې نور....

**۲ (لاندېنی وروستاړی د کړ نوميزه( اسمي )بڼه ټاکي :**
**ونه/نه :**کارونه( استعمال)، بندېدنه، لمانځنه، ټولونه، غوښتنه

**۳ (لاندېني وروستاړي د ستاينومونو نوميزه بڼه ټاکي :**
**تيا :**پراختيا، چوپتيا...
**توب :**برياليتوب، ماشومتوب
**والی :**ستروالی، سپينوالی، يووالی...
**والي :**ولسوالي، ښاروالي...
**ي :**خوشالي، خوښي، هوښياري...

**۴ (لاندېني وروستاړي له نومونو څخه ستاينومونه جوړوي :**
**من/ منه :** دغه وروستاړی د" لرلو " مانا ورکوي لکه هيلمن (هيله لرونکی)، اغېزمن، ستونزمن . ... که ه زور ورزيات شي، نو بيا يې ښځينه بڼه څرګندوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناک /ناکه** : دغه وروستاړی د" کولو یا اغېز پرېښودو " مانا ورکوي لکه اغېزناک (اغېز کوونکی)، غوسناک، خطرناک . ... که ه زور ورزیات شي، نو بیا یې ښځینه بڼه څرګندوي

**یز/ ییز/ یزه/ ییزه:** دغه وروستاړی اړوندتوب ښیي لکه ټولنیز(د ټولنې اړوند)، سولییز، اړخیز، مانیز، نومیز . ... که ه زور ورزیات شي، نو بیا یې ښځینه بڼه څرګندوي
**يي :**دغه وروستاړی اړوندتوب ښیي لکه برېښنایي، هوسایي، نشيي (نشه يي. ...)

**ی :**هغو ستاینومونو په پای کې راځي، چې نرینه یوګړی( مذکر مفرد ) نومونه ټاکي، لکه ښکلی هلک، بریالی سړی، وړوکی ماشوم

**ي :**هغو ستاینومونو په پای کې راځي، چې نرینه ډېرګړی(مذکر جمع) نومونه ټاکي، لکه ښکلي هلکان ، بریالي سړي ، وړوکي ماشومان

**ۍ :**هغو ستاینومونو په پای کې راځي، چې ښخینه یو او ډېرګړی( مونث مفرد او جمع) نومونه ټاکي، لکه بریالۍ ښځې، نرۍ ونه...

**ې :**هغو ستاینومونو په پای کې راځي، چې ښخینه یو او ډېرګړی ( مونث مفرد اوجمع) نومونه ټاکي، لکه ښکلې نجلۍ، وړوکې ماشومه...

**ور/وره :** دغه وروستاړی د" لرل "یا" ترې جوړېدل " مانا ورکوي . لکه :
*زورور (له زور+ ور= زور لرونکی)
*سېکور ( له سېک + ور=ډېره انرژي لرونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ين/ينه :** دغه وروستاړی هم لکه ور د" لرل "يا" ترې جوړېدل " مانا ورکوي لکه :.
*زرين ( زر +ين =طلايي /golden)
*لرگين (لرگی + ين =چې لرگی پکې کارول شوی وي يا له لرگيو جوړ وي)

**د نوم يو -يا ډېرگړی ټاکي :**
**ونه :** ډېری بې ساکښو شيانو په جمع کې :غر-غرونه، سيند -سيندونه، کتاب -کتابونه
**ان :** ډېری د ساکښو ژوندسورو په جمع کې راځي :کب-کبان، هلک-هلکان، لېوه- لېوان
**ی :** د نرينه نومونو يوگړی لپاره، چې پای غبږ يې په ی پای ته رسېدلي وي؛ لکه: سړی، منگی، څپرکی
**ې :** د ښځينه ډېرگړي لپاره، چې يوگړی يې په زور ه پای ته رسېدلي وي؛ پای ته رسېدلی وي لکه ونه - ونې، منه-منې
**ي :** د نرينه نومونو ډېرگړی په پای کې، چې يوگړی يې په نرمه ی پای ته رسېدلی وي لکه سړی - سړي، منگی- منگي ...
**ۍ :** د هغوی ښځينه نومونو ډېرگړي لپاره، چې يوگړی يې هم په ۍ راغلی وي لکه ځولۍ- ځولۍ، ماڼۍ- ماڼۍ

**ځانگړي وروستاړي:**
دغه وروستاړي کومې ځانگړې ډلې پورې اړه نه لري، خو واړه نومونه جوړوي :
**تگ :** خوځښت او يون ښيي لکه پرمختگ، شاتگ...
**دود :** توگه او طريقه ښيي لکه ليکدود، ژبدود...
**ښت :** خوځښت، پېښت، زړښت، اورښت...
**نگ :** ننگ،.غورځنگ، وينگ....
**او :** نياو (انصاف)، ټينگاو (مقاومت)....

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وی:** په کړنه دلالت کوي لکه درناوی، رڼاوی،.غبرګاوی (فيډبيک... )
او داسې نور....

**مختاړي :**

دا هغه تاړی دی، چې له يوې کليمې سره په پيل کې نښلول کيږي او رينبيز نوم له نوې مانا سره راوړي .ځينې مختاړي، د وروستاړو غوندې، چې يو کړ پسې وتړل شي، نو يا يې فاعلي او يا يې نوميزه ( اسمي ) بڼه تاکي .که ځينې وروستاړي نومونو پسې وتړل شي، نو ستاينومونه ترې جوړوي .

**۱ (لانديني مختاړي ترښتي (ترکيبي ) ستاينومونه جوړوي :**

**بې:** مختاړی + نوم لکه بېشمېره، بېسده....
**هم :** مختاړی + نوم لکه همغږی، هممهال...
**يو :** عدد +نوم لکه يولاسی، يوموټی...
**ګڼ :** ستاينوم + نوم لکه ګڼشمېر، ګڼرنګی...
**نېک :** ستاينوم + نوم لکه نېکمرغه، نېکمل
**بد :** ستاينوم + نوم لکه بدمرغه، بدرنګه
**بېل :** ستاينوم + نوم لکه بېلګوند(مخالف حزب )
**کم :** ستاينوم + نوم لکه کمزوری، کممنګی( کم عمره)
**خوا :** نوم + ستاينوم :خوابدی، خواشينی

**۲ (لانديني مختاړي کړونو پسې تړل کيږي او مانا يې بدلوي :**

**پرې :** پرې کول، پرېښودل، پرېوتل...
**تېر :** تېروتل، تېر اېستل....

**۳ (ځانګړي مختاړي :دغه مختاړي کومې ځانګړې ډلې پورې اړه نه لري :**

**کيڼ :** کيڼلاسی، کيڼ اړخی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښی** : ښیلاسی، ښی اړخی
**شا** : شاتګ، شالید
**سر** : سرګڼی، سرپال
نیم : نیمسری(migraine) ، نیمګړی، نیمژبی
په لاندېنیو وییونو کې وروستاړي/ مختاړي په نښه کړئ او ورسره ولیکئ، چې دلته د مخکېني لوست پر بنسټ دا تاړی کوم رول لوبوي .لومړی یو ستاسو لپاره حل شوی :
**ناسم** :دلته نا مختاړی دی او د سم بڼه مخالفه مانا ورکوي او یو ستاینوم دی
**بېکاره:**
**نرۍ :**
**شنونکی:**
**کروندګر:**
**ناسمي :**
**تېروتنه:**
**هیلمن:**
**مانیز :**
**پیاوړتیا:**
**ګړدود :**
**سړي :**
**خوشالۍ :**
**ولسواله:**
**کوچنیوالی :**
**پلټاند :**
**سړیتوب:**
**خاورین:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوم :**

نوم هغه کليمه ده، چې يو وګړی، ځای، څيز او احساس نوموي.

**وګړی :** اتل، ننګيال

**ځای :** امريکا، لندن، کابل، اسيا، ټاپو...

**څيز :** تيږه، منه، بکس، کټ....

**احساس :** ډار، خندا، غوسه، وياړ ....

**د نوم ډولونه :**

**ټولنوم: (common noun)**

د نومونو ډلې يا ټولۍ (کاټېګورۍ )تشريح کوي .

**ځانګړنوم :(proper noun)**

د نومونو په ټوليو (کاټېګوريو) کې ځانګړي څه يا ځانګړې بېلګه نوموي .

د رڼاوي لپاره لاندېنۍ بېلګې وګورئ :

**ټولنوم ............ ځانګړنوم**

انسان ............ سړی، ښځه، هلک، جينۍ

مېوه ............... منه، هندوانه

ژوی ............... اوښ، غوا، سپی

څپرکی ............ اوړی، ژمی، پسرلی

مياشت ............ غبرګولی، ليندۍ، وری

**ذات نوم :(concrete noun)**

د هغه څه نوم دی، چې سړی يې يا ليدلی، لمسولی، اورېدلی او يا بويولی شي .لکه انسان، ژوی، ځای، څوکۍ او نور هغه څه چې جسمي بڼه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مانا نوم:(abstract noun)**

د هغه څه نوم، چې سړی یې نــــه لیدلی، لمسولی، اورېدلی او نه بویولی شي .په لنډه ناجسمي شیان .لکه وخت، سوله، مینه، ویاړ او داسې نور .

**یادونه :**اشتقاق شوي یا تړښتي نومونه هم شته .هغه بیا د وروستاړو او مختاړو په برخه کې وګورئ .

**کړاو(تمرین ):**

لاندېني نومونه د نوم ډولونو په کومه کاټېګورۍ کې راځي :لومړی یو تاسو لپاره حل شوی دی :

١ **منی** :هم ځانګړنوم دی او هم مانا نوم دی

٢ **کتاب:**

٣ **اندېښنه:**

٤ **پکتیا:**

٥ **ولسوالي:**

٦ **نارنګ ولسوالي**

٧ **رڼا :**

٨ **مالتړه:**

٩ **ډار:**

١٠ **احمد:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کړونه (فعلونه) :

**د کړ پېژندون:**
هغه ويی (لفظ)دی، چې کړنه او پېښنه څرګندوي .کړ ته مهالويی هم ويل کېږي، دا ځکه چې له مهالونو سره اړول کېږي، يانې اوړون پيدا کوي.
بېلګې :کول، راوړل، وهل، لمبېدل، رسېدل، خوړل، څښل او داسې نور.
په ټوليز ډول کړ په دوو بڼو وېشل کېږي، چې يو يې لازمي کړ( فعل) دی او بل متعدي کړ( فعل) دی.

**متعدي کړ:(transitive verb)**
هغه کړ دی، چې تل په غونډله يا جمله کې له يو مفعولسره (object) راوړل کېږي .هغه مفعول يو نوم، نومځری) ضمير (يا کوم عبارت کېدای شي .
کړونه لکه خوړل، نيول، وهل، څښل، اغوستل (...) معتدي فعلونه دي .
**بېلګې:**
١ زه اوبه څښم . (دلته کړ څښم دی او مفعول يې اوبه دي .)
٢ هغه کبان نيسي .(دلته کړ نيسيدی او مفعول يې کبان دي .)
٣ احمد زه ووهلم .(دلته کړ ووهلم دی او.مفعول يې زه دی.)
۴ زه ډېرې خبرې نه شم کولی .(دلته کړ" نه شم کولی " دی او" ډېرې خبرې " مفعول دی.)
**مفعول** دوه ډوله دی، چې دواړه له متعدي کړ سره په جمله کې راوړل کېږي .
يو ډول بې سيده مفعول (direct object) دی او بل يې ناسيده مفعول (indirect object)دی.

**سيده مفعول** هغه دی، چې آر کړ (اصلي فعل)يې په مستقيمه توګه اغېزمنوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتنيو بېلګو کې مفعولونه سيده دي.
که لومړنۍ بېلګه زه (اوبه څښم ) د شننې لپاره بيا راواخلو، نو اوبه سيده مفعول دی او څښل آر يا ټوليز کړ (main verb) دی .

**ناسيده مفعول** هغه دی، چې په جمله کې له سيده مفعول سره اړيکه لري . ځينې ژبپوهان يې د سيده مفعول ترلاسونی (recipient) بولي، ځکه چې سيده مفعول ناسيده مفعول ته رسيږي .ځينې متعدي کړونه هم له سيده او هم له ناسيده مفعول سره کارول کېږيو لکه ورکول، ښودل، پېرودل، کول او نور هغه کړونه، چې په " ول "پای ته رسيږي .

**بېلګې:**

۱ : (هغه ماته يوه ډالۍ راکړه) .دلته' ماته 'ناسيده مفعول دی او" يوه ډالۍ " سيده مفعول دی؛ او راکړه، چې د ورکولو تېرمهالي بڼه ده، آر يا ټوليز کړ دی.
۲ : (احمد ملګري ته د خپل ټولګي انځور وښود) .دلته' خپل ملګري ته " ناسيده مفعول دی او ' خپل ټولګي انځور ' سيده مفعول.

**لازمي کړ(intransitive) :**

هغه کړ دی، چې بې له کوم مفعول کارول کېږي، لکه ژړېدل، خندېدل، ولاړېدل، ويرېدل او نور هغه کړونه، چې په ېدل يا کېدل پای ته رسيږي .

**بېلګې:**

۱ : زه ژاړم.
۲ : هغه پر هره خبره خاندي.
۳ : ننګيال سخت وډار شو .

لکه څنګه يې مخکې يادونه وشوه، لازمي کړونه په" ېدل "پای مومي او متعدي کړونه په" ول ."په لومړني انځور کې د دواړو بېلګې کتلې.
بېلګې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لازمي ........... معتدي :**

خوښېدل..... خوښول

خوړېدل ...... خوړول

لړزېدل ......... لړزول

خبرېدل ........ خبرول

ځينې لازمي کړونه دي، چې له ستاينومونو( صفتونو)څخه يې ريښه اخيستې وي، ډېرى ناکره کارول کيږي:

**ناکره ............. کره:**

سپک کيږي ...... سپکيږي

مين کيږي .........مينيږي

زوړ کيږي ............زړيږي

کلک کيږي ...........کلکيږي

په ډېرو داسې ورته کړونو کې" ستاينوم + کيږي " ستاينوم+يږي" بدليږي او له ستاينوم سره نښليږي .

## د کړ (فعل) برابرونه په اوس- او تېرمهال کې:

لکه څنګه چې جوته ده، په اوسمهال کې کړ په جمله کې له کړند (فاعل) سره برابريږي. کړند يو نوم يا يؤ نومځرى (ضمير) کېداى شي. کړند هغه څه يا چاته ويل کيږي چې يوه کړنه ترسره کوي.

بېلګې د رڼاوي لپاره:

✔ ننګيال کتاب لولي. => لولي کړ دى، چې له کړند (ننګيال) سره برابر شوى، کتاب سره نه.

✔ هغه يوه ليکنه کوي. => دلته 'کوي' کړ دى، چې له کړند (هغه) سره برابر شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اوسمهال کې د کړ اوړون فعلي وروستاړي په دې بڼه دي:**

زه ..... **م** => زه لرم

ته ...... **ې** => ته لرې

هغه .... **ي** => هغه لري

موږ ..... **و** => موږ لرو

تاسو .... **ئ** => تاسو لرئ

هغوی ... **ي** => هغوی لري

دغه قاعده ساده راتلونکي مهال پورې هم اړه لري. يانې که په جمله کې مفعول شته وي، نو کړ ورسره برابرېږي او فعلي وروستاړي هم يو شان پاتې کېږي. که همدا لومړنۍ بېلګې راواخلو، نو داسې راځي:

✔ ننګيال به کتاب ولولي.

✔ هغه به يوه ليکنه وکړي.

په تېرمهال (د تېرمهال په ټولو ډولونو کې) کې بيا داسې نه ده. هلته کړ له مفعول سره برابرېږي او هغه هم په نوږي (جنس) او شمېر (عدد) کې. لومړی پر ساده تېرمهال رڼا اچوو او وروسته د تېرمهال پر نورو ډولونو.

که پورتنۍ بېلګې راواخلو او په ساده تېرمهال کې وکاروو، نو داسې راځي:

✔ ننګيال کتاب ولوستو. => دلته 'ولوستو' کړ دی چې له مفعول 'کتاب' سره برابر شوی دی او کتاب نرينه/يوګړی (مذکر /مفرد) دی. که چېرې کتابونه په جمله کې راغلي وای، نو د 'ولوستو' پر ځای ولوستل راځي - يانې د کړ په ريبنه پسې ل تړل کېږي.

✔ هغه ليکنه وکړه. => دلته 'وکړه' کړ دی چې له مفعول 'ليکنه' سره برابر شوی دی او ډوډۍ ښځينه/يوګړی ( مونث /مفرد) دی.

که چېرې پهٔ جمله کې ليکنې (د ليکنه جمع) راغلې وای، نو بيا د 'وکړه' پر ځای وکړې راځي - يانې د کړ په ريبنه پسې اوږده ې تړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنیو بېلګو پر بنسټ دا څرګندېږي، چې په تېرمهال کې کړ پورې یو ځانګړی فعلي وروستاړی تړل کېږي، کله چې له مفعول سره په نوږي او شمېر کې برابر شي.

★ که مفعول نرینه یوګړی وي، نو کړ رېښه پسې و (واو) تړل کېږي لکه ما کتاب ولوستو.

★ که مفعول نرینه ډېرګړی وي، نو کړ رېښه پسې ل (لام) تړل کېږي لکه ما کتابونه ولوستل.

★ که مفعول ښځینه یوګړی وي، نو کړ رېښه پسې ه (زور ) تړل کېږي لکه ما لیکنه وکړه.

★ که مفعول ښځینه ډېرګړی وي، نو کړ رېښه پسې ې (اوږده یې) تړل کېږي لکه ما لیکنې وکړې.

خو په اوسني لیکدود کې "یوازې" کړ پسې و (واو) نـه تړل کېږي، که مفعول نرینه/یوګړی وي. کله ورپسې ه (زورکی) تړل لکه وواهه (ووهلو) او وتاړه (وتړلو) ... . او کله ورپسې هېڅ هم نه تړل کېږي لکه وښود (وښودو)، وکړ (وکړو) او داسې. خــو که چېرې داسې پاتې شي، نو ژبنۍ ربړې او ستونزې زده کوونکو لپاره پنځوي.

که چېرې همدا ځانګړی فعلي وروستاړی 'و' وکاروو، نو له دې سره به اسانتیا رامنځته شي، یوه نوې او اړینه قاعده به رامنځته شي او په لر او بر کې ژبنی نژدوالی ډېر شي.

د دغې سولمنې (منطقي) او اړینې قاعدې له مخې به د کړونو رېښو پسې و وروستاړی تړو، چې کله مفعول په تېرمهال کې نرینه یؤګړی وي.

کره بڼه ........اوسنۍ بڼه ...... بېخي ناسم:

وکړو ............. وکړ .......... اوکړ /اوکړو

وښودو .......... وښود ...... اوښود/اوښودو

وکتو ............ وکاته ....... اوکاته/اوکتلو

ونیوو .......... ونیوه ...... اونیوه/ اونیولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړو ......... وخوړ ....... اوخوړ /اوخوړلو
ولوستو .... ... ولوست .... اولوست/اولوستو
ووهلو ........... وواهه ..... اواهه /اوهلو
وليکو ............ وليکه ...... اوليکخ /اوليکو-لو
او داسې نور
ساده تېرمهال په دې هم اسانه پېژندل کېږي، د فعلي وروستاړو تر څنګه "يــو" فعلي مختاړی هم لري - يانې 'و'. پورته بېلګې وګورئ؛ ټولې په و پيلېږي.
يادونه: که چېرې په غونډله (جمله ) کې مفعول نه وي راغلی، نو بيا کړ له کړند سره برابرېږي او له هماغو فعلي وروستاړو سره اړول کېږي لکه په اوسمهال کې، خو يوازې د درېيم کس يو او ډېرګړی (هغه او هغوی) لپاره بدلېږي.
زه ........ **م**: زه لاړم (لکه په اوسمهال کې)
ته ........ **ې**: ته لاړې (لکه په اوسمهال کې)
هغه ...... **و**: هغه لاړو
موږ......... **و** :موږ لاړو (لکه په اوسمهال کې)
تاسو.......**ئ**: تاسو لاړئ (لکه په اوسمهال کې)
هغوی ... **ل**: هغوی لاړل
څنګه چې په پيل کې يادونه وشوه، د تېرمهال په نورو ډولونو کې هم کړ له مفعول سره برابرېږي، که چېرې په غونډله کې يو مفعول راشي.

***نابشپړ (جرياني) تېرمهال:***
دا مهال هله کارول کېږي، کله چې يوه کړنه په تېرمهال کې روانه وي.
که پيلنۍ دوې بېلګې راواخلو:
- ✓ ننګيال کتاب لوستلو.
- ✓ هغه يوه ليکنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✔ ننګيال کتابونه لوستل.
✔ هغه ليکنې کولې.
!! کوم فعلي وروستاړي چې په ساده تېرمهال د مفعول - کړ برابرونې لپاره راځي، هماغه په نابشپړ تېرمهال کې هم راځي. يوازېنی توپير يې دا دی، چې په نابشپړ تېرمهال کړنومی (مصدر) نه بدلېږي - لکه په ساده تېرمهال کې چې کول پر کړ اوښتی. همدارنګه د کړ تر ريښې مخکې 'و' مختاړی نه راځي.

**نږدې بشپړ تېرمهال:**
دا مهال هله کارول کېږي، چې يوه کړنه ترسره شوې وي او له اوسمهال سره ډېر مهالي واټن ونلري او اغېز يې تر اوسمهال پورې وغځېږي. که پيلنۍ دوې بېلګې راواخلو:
✔ ننګيال کتاب لوستلی دی
✔ هغه يوه ليکنه کړې ده.
✔ ننګيال کتابونه لوستلي دي.
✔ هغه ليکنې کړې دي.
څنګه چې له بېلګو معلومېږي، په نږدې بشپړ تېرمهال کې کړ له دوو برخو جوړ دی، چې يو آر (اصلي) کړ دی او بل مرستيال کړ.
دغو جملو کې لوستل او دی/دي/ده مرستيال کړ دی چې په برابرونه کې بېل فعلي وروستاړي لري.
* نرينه مفعول يوګړی: **کړ+ی دی**
* نرينه مفعول ډېرګړی: **کړ+ي دي**
* ښځينه مفعول يوګړی: **کړ+ې ده**
* ښځينه مفعول ډېرګړی: **کړ+ې دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليرې بشپړ تېرمهال:**

هله کارول کېږي، چې کله يوه کړنه ډېر شاته په تېرمهال کې بشپړه ترسره شوې وي او له اوسمهال سره هېڅ تړون نه لري.

که بيا پيلنۍ بېلگې راواخلو:

✔ ننگيال کتاب لوستلی و

هغه ليکنه کړې وه

ننگيال کتابونه لوستلي ول

هغه ليکنې کړې وې

دلته فعلي وروستاړي نژدې بشپړ تېر مهال ته ورته دي او يوازې مرستيالکړ بدلېږي.

- نرينه مفعول يو گړی: **کړ+ی و**
- نرينه مفعول ډېر گړی: **کړ+ی ول**
- ښځينه مفعول يوگړی: **کړ+ې وه**
- ښځينه مفعول ډېر گړی: **کړ+ې وې**

## مرستيال کړونه:

مرستيال کړ هغه کړ دی، چې په يوه جمله کې تل د يو آر کړ (اصلي فعل )بدرگه کوي او ددوی ښکارندويي کوي .دوی آرو کړونو ته گرامري او دنديزه ( فنکشنل) مانا ورزياتوي.

دوی په جمله کې يواځې نه شي راتلای .که راشي، نو کومه مانا نه ورکوي .

**يوه بېلگه :**

ما ډوډۍ خوړلې ده <----- .دغه غونډله کې آر کړ" خوړلې " دی او مرستيال کړ" ده ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښتو مرستيال کړونه :**

**به:**

**۱: راتلونکي مهال ته اشاره کوي او هوډ او پرېکړو لپاره راځي .**

**بېلګې :**

* زه به راشم . (راشم آر کړ دی او به مرستيال کړ)
* زه به ډوډۍ وخورم . (وخورم آر کړ دی)
* زه به خامخا راځم. ( راځم آر کړ)

**۲: په تېرمهال کې هغو کړنو ته اشاره کوي، چې ناشونتيا ښيي.**

**بېلګې :**

* ما به دا کار کړی وای، خو ستړی وم.
* هغه هغه به درغلی وای، خو تا خوابدی کړی و.

**۳ : يو ګمان يا انګېرنې لپاره راځي :**

**بېلګې:**

* دا ځمکه لنده ده .باران به ورېدلی وي.
* اتل به په کارونو کې بوخت وي، ځکه چې اړيکه کمه نيسي .

**ول:**

مانا يې شتون دی . له آر کړ سره په تېرمهال او راتلونکي مهال کې مرسته کوي – له ساده تېرمهال پرته .د تېرمهال په ځينو بڼو کې" ول "خپل شکل بدلوي .

"ول (be) "يوازېنی مرستيال کړ دی، چې په اوسمهال او ساده تېرمهال کې د آر کړ په توګه هم راځي .لکه زه خوشاله يم (اوس )او زه خوشاله وم (تېر ) <== .آر کړ هغه کړ دی، چې په جمله کې يواځې راتلای شي او يوه مانا هم ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په تېرمهال کې د" ول "اوړون :**

وم، وې، و، وه، وو، وئ، ول(وو )

**بېلگې:**

* هغه نه و راغلی( . راغلی آر کړ دی او و مرستيال کړ)
* هغوی هلته تللي ول . (تللي آر کړ دی او ول مرستيال کړ)

**په ارماني، شرطي، توصيي يا هم (فرضي) او گماني تېرمهال کې" ول " خپله بڼه پر" وای "يا پر" وي "بدلوي" .وي "يوازې گماني تېرمهال کې راځي .**

**بېلگې :**

* کاش زه هلته وای. (ارماني)
* که زه راغلی وای، ښه به وای . (شرطي)
* ته بايد راغلی وای . (فرضي )
* هغه به درغلی وي، خو تا به نه وي ليدلی . (گماني)

**بايد:**

فرض، پياوړی وړانديځ او پياوړې سپارښتنه څرگندوي .

* زه بايد دغه کار وکړم . (فرض)
* ته بايد راغلی وای .
* ته بايد ډېر درس ووايې، گڼې بريالی کېدل گرانه ده . (پياوړی وړانديځ)
* ته بايد دغه فلم هرو مرو وگورې .ډېر خوند کوي. (پياوړې سپارښتنه)

**شول :**

وړتيا او توان څرگندوي:

* زه دا کار کولی شم .
* هغوی راتلای شول، خو زړونو يې نه غوښتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېدل:** يوازې په بېچاره) مجهول (passive/ جمله کې د مرستيال کړ په توګه کارول کېږي. بېچاره جمله هغه ده، چې فاعل پکې سم څرګند نه وي .
* هره ورځ انسانان وژل کېږي .
* بريالی کېدل ګرانه نه ده، که کوښښ وکړې.

په لاندېنيو غونډلو کې آر کړ او مرستيال کړ په نښه کړئ او دواړو لپاره دوه بېل رنګونه د اسانتيا لپاره وکاروئ .
(يادونه :په يوه غونډله کې تر يو ډېر کړونه راتلای شي)
يادونه :اتمې جملې ته ځانګړې پاملرنه وکړئ!

١ (زه کور ته ځم.
٢ (ما لږه ډوډۍ وخوړه.
٣ (ما هغه ته وويل، چې دلته راشي .
۴ (زه ستړی يم، ځکه چې ډېر کار مې کړی دی .
۵ (زما ملګري دغه کتاب په يوه اوونۍ کې ولوست.
۶ (زه به دغه کار ترسره کړم .
٧ (احمد کولي شول، چې راشي.
٨ (هغه خوشاله و.
٩ (په ښوونځي کې ماشومان نه وهل کېږي.
١٠ (ته بايد غلی کېنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستاينوم:**

هغه وييکی (کليمه )ده، چې د نومونو اکر او ځرنگوالی تشريح کوي لکه ښکلی، کوچنی، نری، ستر، لوی، سور، تور، ناسم، سم او داسې نور .ستاينوم د" څنگه دی/ده/دي؟ "پوښتنه ځوابوي .

**په پښتو کې ستاينوم د نوم له نوږي( جنس)او شمېر( عدد)سره برابرېږي.**
بېلگه :
**احمد يو هلک دی** => .که دغې جملې ته ستاينوم" ښکلی "ورزيات کړو، نو بيا داسې؟ راځي :**احمد يو ښکلی هلک دی** .دلته هلک نرينه يوگړی دی، نو ښکلی هم په نرمه ی ليکل کيږي .که د يوې جينۍ خبره وکړو، بيا ښکلی پر ښکلې بدلېږي - يانې **موسکا يوه ښکلې جينۍ ده .**
په پښتو کې ځينې کم ستاينومونه، چې په زور ه پای ته رسېدلي وي، په نوږي او شمېر کې نه بدلېږي .لکه تکړه، ښايسته او داسې نور.

**د ستاينوم ډولونه:**
د موقيعت له مخې په دوه ډوله دي:
۱ : **بر ستاينوم** :تر نوم مخکې راځي:
* يوه ښکلې ښځه راغله . (ښکلې تر نوم مخکې راغلی)
* دا سور گاډی زما دی .
۲ : **لر ستاينوم** :تر نوم وروسته راځي .
* دغه سړی رښيتنی دی. (رښتينی تر سړي وروسته راغلی )
* هغه گاډی سور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نوږي (جنس) او شمېرنوم (عددله) مخې د ځینو ستاینومونو اوړون

۱) د هغو ستاینومونو نرینه بڼه، چې په یو بېواک غږ پای ته رسېږي، په یه او ډېرګړي (مفرد + جمع) کې یو ډول پاتې کېږي یا نه بدلیږي . خــو ښځینه بڼه یې په دواړو حالتونو کې (یو او ډېرګړی) کې بدلیږي.
مخکې له دې چې پر دغې سکالو رڼا واچوو، نو لومړی باید پر دې پوه شو، چې بېواک غږ څه ته وایي.

★ **بېواک یا کانسوننټ غږونه** هغه غږونه دي، چې د دوی د ادا پر وخت د هوا جریان خنډېږي – یانې د هوا جریان پر وړاندې خنډ او مانې رامنځته کېږي.

بېواک غږونه:

ج/خ/څ/ځ/غ/هـ/ګ/ډ/د/ک/م/ن/ڼ/ت/ټ/ل/ب/پ/ی/س/ش/ښ/و/بېواک و (ؤ)/ر/ړ/ږ/ژ/ز + (ح/ف/ث/ق/ص/ض/ذ/ط/ظ)

د سکالو رڼاوي (وضاحت) لپاره یوه بېلګه، چې ښنګه په بېواک غږ پای ته رسېدونکي ستاینومونه نرینه بڼې لپاره نهٔ بدلیږي او ښځینه لپاره بدلیږي:

**فرمول:**

نرینه یوګړی: **آر (اصلي) حالت**

نرینه ډېرګړی: **آر حالت**

ښځینه یوګړی: **آر حالت + ه**

ښځینه ډېرګړی: **آر حالت + ې**

که " سم" د بېلګې پهٔ توګه راواخلو:

نرینه یوګړی: **سم** (لکه: سم ځواب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرینه ډېرګړی: **سم** (لکه سم ځوابونه)

ښځینه یوګړی: **سمه** (لکه: سمه خبره)

ښځینه ډېرګړی: **سمې** (لکه: سمې خبرې)

دوې معلومې استثناوې:

۱) شین (نرینه ډېرګړی يې پر شنه بدلیږي).

۲) تریخ (نرینه ډېرګړی يې پر تراخه بدلیږي)

لاندېنی یو څو نورې بېلګې وړاندې کوې:

**ستر – ستر – ستره – سترې**

**خوښ – خوښ – خوښه – خوښې**

**لوړ – لوړ – لوړه – لوړې**

**تور – تور – توره – تورې**

**کلک – کلک – کلکه – کلکې**

**ویښ – ویښ – ویښه – ویښې**

**۲) په زورکی (چې یوازېنی خپلواک غږ دی) پای ته رسېدونکي ستیانومونه هم په نرینه یوُ اوډ ېرګړي کې یو شان پاتې کیږي، لکه:** ښه، ویده، سپېره، تېره

**نرینه یوګړی:** ښه/ویده/سپېره..

**نرینه ډېرګړی:** ښه /ویده/سپېره..

**ښځینه یوګړی:** ښه /ویده /سپېره (پهٔ زور )..

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښځينه ډېرګړی:** ښې/ويدې/سپېرې ..

که چېرې  په هغه ستاينوم کې، چې په بـېواک غږ پای ته رسېدلي وي، تر بېواک غږ مخکې اوږد يا لنډ واو راغلی وي، نو په هغوی کې د يوې ډلې نرينه ډېرګړی (مذکر جمع) بدلېږي او بله ډله يې بيا پورتنۍ (لومړنۍ قاعدې) پورې اړه لري.

د هغې ډلې، چې نرينه ډېرګړی يې بدلېږي، "و" پکې پر "ا" اوړي او په پای کې يې زورکی ه راځي. که د " خوږ  (شربت) " بېلګه راواخلو:

ږ يو بېواک غږ دی او تر ږ مخکې اوږد و راغلی. دلته که د خوږ نرينه جمع ليکل وغواړو، نو خواږه راځي. دلته و پر الف اوښتی او په پای کې يې زورکی ۀ راغلی.

دا و يې په ښځينه يو او ډېرګړي کې هم ورکېږي.

نور داسې ستاينومونه دا لاندېني دي.

**نرينه م. – نرينه ج. – ښځينه م. – ښځينه ج.**

زوړ – زاړه – زړه – زړې

ووړ – واړه – وړه – وړې

لوند – لانده – لنده – لندې

کوږ – کاږه – کږه – کږې

موړ – کاوه – مړه – مړې

سوړ – ساړه – سړه – سړې

روڼ – راڼه – رڼه – رڼې

ړوند – ړانده – ړنده – ړندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوڼ - کاڼه - کڼه - کڼې

پوخ - پاخه - پخه - پخې

خور - خؤاره - خؤره - خؤرې

پروت - پراته - پرتې - پرتې

درون - درانه - درنه - درنې

دروند - درانده - درنده - درندې

دوه ورته ستيانومونه، چې داسې اړول کيږي سور (رنګ) او تود (ګرم) دي.

نرينه يو - نرينه ډېر - ښځينه يو - ښځينه ډېر

سور - سره - سره - سرې

تود - تاوده - توده - تودې ؛

دويمه ډله چې لومړنۍ قاعدې پورې اړه لري - يانې نرينه يؤ او ډېرګړی يې شان پاتې کيږي:

**نرينه يو - نرينه ډېر - ښځينه يو - ښځينه ډېر**

تور - تور - توره - تورې

لوی - لوی - لويه - لويې

ډوب - ډوب - ډوبه - ډوبې

جوړ - جوړ - جوړه - جوړې

روغ - روغ - روغه - روغې

سمسور - سمسور - سموره - سمسورې

**رغېدلي ستاينومونه:**

١: له کړونو رغېدلي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دردوونکی (له دردول)
- خواشینوونکی (له خواشینول ... )

۲: له نومونو رغېدلي :
- ستونزمن ( سوتونزه + من وروستاړی)
- مانیز (مانا + یز وروستاړی)
- بېخونده (بې مختاړی + خوند)

او داسې نور ....

**یادونه** :له نومونو رغېدلي ستاینومونه نور د مختاړو او وروستاړو په برخه کې وګورئ !

**د درجې له مخې :**
- تړولیز( عادي) ستاینوم <== یوازې ستاینوم

لکه :دا ښه هلک دی .
- پرتلیز ستاینوم <== تر .... لا/ډېر + ستاینوم

لکه :دی تر تا لا ښه دی.
- تفصیلي ستاینوم <== خورا/ تر ټولو +ستاینوم

لکه :دا تر ټولو/ خورا ښه فلم دی.

په لاندېنیو غونډلو کې ستاینوم په ښه کړئ :
(یادونه :په یوه غونډله کې تر یو ډېر ستاینومونه راتلای شي):

۱ : دا ډېر ګلالی ماشوم دی.
۲: سپین غر د وطن یو هسک غر دی .
۳ : دا یوه ښکلې جینۍ ده .
۴ : دغه یو ستونزمن کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ : دومره په زړه پورې او زړه راښکونکې سندره ما تر اوسه نه وه اورېدلې .
۶: هغه تل بېسوله خبرې کوي.
۷: خالد یو غوسناک هلک دی.
۸: الله ج تر هر څه ځواکمن دی .
۹ : دده زوی زښت نیازبین دی.
۱۰ :احمد شابابا یو زړور پاچا و.
۱۱: پرون ترغاک (طوفان)یوه نرۍ ونه ماته کړه.
۱۲: موږ په یو سولییز او پرمختللي هېواد کې ژوند کول غواړو .
۱۳: مړ هم پښتون دی او پړ هم.
۱۴: ژوندی دې وي افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نومځری:

نومځری هغه کلیمه ده، چې د نومونو استازیتوب کوي، که هغه د انسانانو، ژویو یا شیانو وي .دغه کلیمه په غونډله کې د نوم د تکرار مخه نیسي.

**١ : پیاوړي ځاني نومځري:**

په جمله کې کړند( فاعل)څرگندوي :

لومړی تن یوگړی :**زه/ما**

دویم تن یوگړی :**ته/تا**

دریم تن یوگړی نرینه :**هغه/دی**

دریم تن یوگړی نرینه :**هغـه/دا**

لومړی تن ډېرگړی :**موږ**

دویم تن ډېرگړی :**تاسو**

دریم تن ډېرگړی :**هغوی/دوی**

**٢ : کمزوري ځاني نومځري :**

**یو گړی ........... ډېرگړی** :

مې ................ مو

دې ................. مو

یې ................. یې

دا مې کور دی . (دا زما کور دی)

دا مو کورونه دي. (دا زموږ کورونه دي)

دا دې کور دی؟ (دا ستا کور دی؟)

دا مو کورونه دي؟ (دا ستاسو کورونه دي؟)

دا یې کور دی . (دا د هغه کور دی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې کورونه دي. (دا د هغوی کورونه دي)

**۳ : د تول څښتنوالي نومځري:**

زما، ستا، د هغه/دده، دهغې/ددې، زموږ، ستاسې، دهغوی/د دوی

**۴: مفعولي نومځري:**

**✓سيده مفعولي نومځرى (direct object):**

ځاني نومځري هم د سيده مفعول په توګه کارول کيږي .سيده مفعول هغه دی، چې آر کړ) اصلي فعل (يې په مستقيمه توګه اغېزمنوي .

**بېلګې:**

*خوشال زه ووهلم <= .خوشال دلته فاعل دی /زه يو سيده مفعول دی، چې آر کړ" ووهلم "يې په مستقيمه توګه اغېزمنوي .

*هغه موږ وروسته خبر کړو <= هغه او موږ دواړه ځاني نومځري کېدای شي، نو دې ته به ګورو، چې کړنه يانې" خبرول "دلته څوک ترسره کوي .دلته هغه فاعل دی، نو ځاني نومځرى دی او موږ سيده مفعول، دا چې آر کړ "خبر کړو " يې اغېزمنوي .

**✓ناسيده مفعولي نومځرى (indirect object ):**

ماته، تاته، هغه/ ده ته، هغې/دې ته، موږ ته، تاسې ته، هغوی/دوی ته

چې له ځاني نومځري سره " ته "سربل وي، نو ناسيده مفعولي نومځرى ترې جوړوي.

*ناسيده مفعول* هغه دی، چې په جمله کې له سيده مفعول سره اړيکه لري .

ځينې ژبپوهان يې د سيده مفعول ترلاسونى (recipient) بولي، ځکه چې سيده مفعول ناسيده مفعول ته رسيږي .

*هغه ماته يو کتاب راکړ <= هغه يو ځاني نومځرى (فاعل )دی او" ماته " ناسيده مفعول .په دغه جمله کې يو کتاب سيده مفعول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه** :د کړ په برخه کې د سيده او ناسيده مفعول شننه وګورئ !

**۵: پوښتنومځري:**
څوک، چا، کوم
درې واړه هم ځاني نومځري او هم سيده مفعولي نومځري کېداى شي .
همدارنګه ناسيده مفعولي هم کېداى شي، که" ته "سربل ورزيات شي.
**بېلګې:**
څوک راغی؟ <= دلته څوک فاعل دی
څوک يې وواژه؟ <= دلته څوک سيده مفعول
چا دغه کار وکړ؟ <= چا دلته فاعل دی
هغه چاته وويل؟ <= چاته دلته ناسيده مفعول دی

**۶: دنغوتې نومځرى (اشارې ضمير:)**
څيزونو، انسانانو يا ژويو ته نغوته کوي :
دغه (دغې، دغو)، همدا (همدې), دې، همدوى,دوى، همده---

**۷: د اړيکنومځرى :**
چې [ پاملرنه !! !په غونډلو کې کوم چې يا چا چې ناسم دي - يوازې چې سم راځي]
بېلګې :هغه سړى، چې هلته ولاړ دى، زما ورور دى <= .چې اړيکنومځرى دى
ناسم به داسې واى :هغه سړى، کوم چې هلته ولاړ دى، زما ورور دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړول:**

هغه وييکی ده، چې په يوه غونډله کې د ځای، مهال او د يوې کړنې يا پېښې ځرنګوالي په اړوند زيات معلومات ورکوي .کړول د څه ډول، کله، چېرې/چېرته پوښتنو ځواب ورکوي .

کړولونه) قيدونه (په څو ډولونو وېشل کيږي :

**مهالي کړولونه** :نن، پرون، سباته، اوس، وروسته، بيا، همېشه، پخوا، مخکې، کله ناکله، تل، ناوخته

**ځايي کړولونه :**هلته، دلته، بر، لر، دېخوا، اخوا، پورته، ښکته، دباندې، بهر، دننه، مخ ته، شاته، ښیۍ خوا، کيڼه خوا، تر څنګ، په خوا کې، تر منځ، په مينځ کې، ..

**د ځرنګوالي کړولونه** :ناڅاپه، سخت، ورو ورو، په چټکۍ سره، په اسانۍ سره، په بيړه، په پام سره، په درناوي، په توکه، په مرسته، او نور ستيانومنه) صفتونه (چې له* په * سره راځي .

د اندازې يا کچې کړولونه :ډېر، لږ، زښت، خواره، پرېمانه،بېخي

**د نفي کړولونه** :هېڅکله هېچېرې

**د لامل ( دليل )کړولونه** :له کبله، له لامله، يانې

**د شونتيا کړولونه** :ښايي، کېدای شي، ګوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سربل او وستربل :

سربل او وستربل په ګډه سره په یوه غونډله کې د یو نوم او نومځري بدرګه کوي او له هغوی سره د یوې ځانګړې ژبدودیزې اړیکې په موخه کارول کېږي .په ټولیز ډول یو ځای، لوری، واټن، مهال، پرتله او تول (ملکیت) څرګندولی شي .

په پښتو کې **سربل** تر یو نوم یا نومځري مخته راځي .سربلونو کې د، ته، پر، په، له او تر راځي.

**وستربل** تر یو نوم یا نومځري وروسته راځي او په خپلواکه توګه بې له سربل نه شي کارول کېدای .په وستربلونو کې راځي :کې، سره، لپاره، باندې، لاندې، مخکې او داسې نور راځي .

**لاندېني سربل + وستربل یوون ځای څرګندوي:**

سربل ... وستربل : بېلګه

په ...... کې :زه په کور کې یم.

پر ...... سر :د بام پر سر ولاړ ده.

پر ..... باندې :کتاب پر مېز باندې کېږده.

تر ..... لاندې :بکس تر مېز لاندې پروت دی.

د .... له سره :د غر له سره ټول ښار لیدل کېږي

د ...... تر شا :فابریکه د ودانۍ تر شا دهو

د .......تر منځ :هلک د دوو ښځو ترمنځ ولاړ دی

**لاندېني سربل + وستربل یوون لوری څرګندوي:**

**سربل ....وستربل : بېلګه**

**له ...... څخه/ځنې** :هغه له کابل څخه راغی

**تر ...... پورې** :تر ښار پورې مې ورسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاندېني سربل + وستربل یوون مهال ځرګندوي:**
**سربل ... وستربل : بېلګه**
**تر/ له .... وروسته** :تر غرمې وروسته راشه.
**تر/له.... مخکې** :تر ۹ بجو مخکې راشه .
**تر ....پورې** :تر راتلونکې اوونۍ پورې هلته دی

**لاندېني سربل + وستربل یوون اړیکه ځرګندوي:**
**سربل ..... وستربل** : بېلګه
**له .......... سره** :له هغه سره کور ته ځم.

**لاندېني سربل + وستربل یوون پار ځرګندوي:**
**سربل ..... وستربل** : بېلګه
**د ........... لپاره** :د هغه لپاره هر څه کوم.

**خپلواک سربلونه – یوائې کارېدونکي:**
**د :** څښتنوالی ځرګندوي :زما د ګاډي رنګ سور دی.
**ته :** لوری ځرګندوي :زه ښار ته ځم.
**پر :** د کارونې ډېر ځایونه لري .د مهمو توپیرونو په برخه کې تشریح وګورئ.
**تر :** پرتله ځرګندوي :تر تا هغه ښه دی.
**له :** لوری یا اړخ :له تاسو مننه کوم.

په لاندېنیو غونډلو کې سربل او وستربل په په نښه کړئ او وروسره ولیکئ، چې دلته یو لوری، ځای، مهال، لامل، پرتله یا ... ځرګندوي :
(یادونه :په یوه غونډله کې تر یو ډېر کړونه راتلای شي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



١ ( زه تر تا مشر يم.
٢ ( هغه په کابل کې اوسېږي.
٣ ( پيشو تر مېز لاندې پټه ده.
۴ ( زما شخولې د المارۍ پر سر اېښې دي.
۵ ( زه له هغه سره ښار ته ځم.
۶ ( هغه د خپل ملګري لپاره سرښندنه وکړه.
٧ ( هغه له کلي څخه ښار ته راغی.
٨ ( له دوو کالو راهيسې پښتو زده کوم.
٩ ( زه به تاته تر ماسپښين مخکې درشم.
١٠ ( د هغه ورور نعيم نومېږي.
١١ ( د دې غره له سره ټول ښار ليدلی شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اړيکوييکي :**

هغه وييکی ده، چې جملې يا د جملو برخې سره نښلوي او مفکورې پياوړې کوي .

**تړ اړيکوييکی:**

هغه اړيکوييکی دی، چې يوه بېواکه غونډله (جمله) له يوې خپلواکې غونډلې نښلوي .**خپلواکه غونډله** هغه ده، چې يواځې يا گوښې راتلای شي او کومو اضافي معلوماتو ته اړتيا نه لري، چې له ژبدوديز پلوه يې بشپړه کړي.غونگله زه ښار ته ځم <== .دا يوه خپلواکه غونډله ده، چې يو فاعل، کړ او مفعول لري .**بېواکه غونډله** هغه ده، چې خپلواکه غونډله پسې د زياتو معلوماتو په موخه او ډېرى د دمکۍ) کاما = ، (په مرسته نښلول کيږي او يواځې نه شي راتلای . هغه زيات معلومات کېدای شي :مهالي، ځايي، النبي او اړيکي يا شرطي .

بېلگه:

هغه سړی، چې هلته ولاړ دی، زما ورور دی.

==>هغه سړی زما ورور دی دلته خپلواکه غونډله ده او" چې هلته ولاړ دی " زيات اړيکي معلومات دي، چې د" چې "اړيکوييکي په مرسته د بېواکې غونډلې په توگه خپلواکې غونډله پسې تړل شوي .همدارنگه تر" چې "مخکې دمکۍ) ، (راغلې .

**لاندېني د پښتو تړ اړيکوييکي دي :**

-سره له دې چې

-څنگه چې

-آن دا چې

-چې (اړيکه )

-کله چې( مهال )

-بيا( شرط )

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ځکه چې ( لامل )
-دا چې (لامل )
-نو (لامل )
-نو ځکه (لامل)
-تر څو(مهال/ شرط )
-که( شرط )
-که چېرې ( پياوړی شرط)
-چېرته چې (ځای )
-يو ځل چې ( شرط )
-مخکې له دې چې(مهال)
-بې له دې چې

**رابطه اړيکوييکی :**
هغه اړيکوييکی دی، چې وييونه، څو عبارتونه او يا څو خپلواکې غونډلې سره تړي .
لاندېني اړيکوييکي په پښتو کې د رابطې اړيکوييکي دي :
-**خو**
-**او** ( ماته د پښتو او انګرېزي کتابونه خوند راکوي) .دلته دوه وييونه سره تړي
ـ **بلکې**
ـ **يا** :(زه به درشم او يا ته راشه، که شونې وي) .دوه عبارتونه سره تړي .
**تر خو او بلکې مخکې يوه دمکۍ(کامه)راځي، لکه :زه راغلم، خو هغه هلته نه و .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همکار یا بشپړاند اړیکوییکی :**

هغه وییکی دی، چې له دوو وییکو جوړ وي او په ګډه همکارۍ سره د یوې جملې برخې له یوې بلې سره په اړیکه کې راولي .په بله وینا دوی تل یوه جوړه وي .

لاندېني اړیکوییکي په پښتو کې همکار اړیکوییکي دي :

ـ **یا ... یا** :یا ته راشه یا به زه درشم .

ـ **نه .... نه** :نه مې دا خوښېږي، نه مې هغه.

ـ **نه یوازې ... بلکې هم** :نه یوازې ته ګرم یې، بلکې زه هم.

ـ **هم .... هم** :هم ته ګرم، هم زه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

## نرمه یا(ay)

**۱: دځینو یوګړیزو (مفرد مذکر )نومونو لپاره لکه :**
سړی، پسرلی، منګی، زمری، اوړی، لرګی

**۲: د هغه ستاینومونو لپاره چې د یوګړیز ( مفرد مذکر )نومونو لپاره کارول کیږي لکه :**
بریالی (احمد بریالی دی)
ننګیالی (خوشال بابا ننګیالی و)
ښکلی (یو ښکلی منګی)
نری (دا سړی نری دی)

**۳: دهغه یوګړیزواغل نرینه( مفرد مذکر)نومونو لپاره چې له کړونو (فعلونو) څخه منځ ته راشي لکه:**
زده کوونکی ( له زده کولو څخه)
کارکوونکی (له کار کولو څخه)
څېړونکی ( له څېړلو څخه)
خرڅوونکی (له خرڅولو څخه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴: همدارنګه د کړونو په پای کې، چې کړند یا مفعول پورې اړه لري او هغه نرینه یوګړی (مفرد مذکر) وي لکه :**

***ما کار کړی دی.** (کړی "تولیز فعل دی او" دی "مرستیال فعل، چې "کار "پورې اړه لري او" کار "نرینه یوګړی دی او مفعول په توګه کارول شوی)

***زه راغلی یم** (" راغلی " عمومي کړ دی، چې" زه "پورې اړه لري او دغه زه دلته د فاعل په توګه کارول شوی.)

یادونه :که دغه دویمه جمله یوې جینۍ ویلې وای، نو بیا به مو د" راغلی "پر ځای" راغلې "لیکله، ځکه چې جینۍ ښځینه وګړی دی .خو ددې اړوند معلومات به تاسو د اوږده ې په برخه کې ترلاسه کړئ .

**۵: ځاني نومځري(شخصي ضمیرونه) دی (هغه) او دوی( هغوی ) هم په نرمه یا لیکل کیږي.لکه:**

دا احمد دی .دی په هغه کلي کې اوسیږي.

دوی ټول زما ښهٔ ملګري دي .

**۶ : د ځینو عمومي او ډېرو کارېدونکو وییونو (لفظونو) په پای کې راځي، لکه:**

ځای، پای، پوهاوی، درناوی، سپیناوی، غبرګاوی( فیډبېک)، مخنیوی، لاسنیوی، رڼاوی، زوی، خوی، لوی، بوی، راتلونکی، بچی( نرینه)، وګړی، مړی (جسد), ژوی(حیوان)، څاروی، اوړی( موسم)، ژمی( موسم)، منی (موسم)، څلی، ښاغلی، خلی (اور بلولو وړوکی لرګی)

پاملرنه :په لنډو ټکو، نرمه (ی)د هر هغه ویي لپاره راځي، چې نرینه وي او یو ګړی(مفرد مذکر)وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې :

- هغه سړی يا وګړی، چې له نورو سره مرسته کوي، هغه به تل بريالی وي.
- د هغه خواپورې څپرکی اوړی دی او د ډېر ساړه له کبله ژمی خوند نه ورکوي.
- زمری داسې يو غښتلی او وېروونکی ژوی دی، چې د ځنګل پاچا يادېږي.
- احمد خپلې مور غره ته لرګيو پسې لېږلی و او ده له ځان سره يو ستر لرګی راوړی دی.
- خوشال بابا داسې يو پاوړی او توريالی جنګيالی و، چې د پښتو په شعرونو ډېر يادېږي.
- هغه د مېوو پلورونکی يو رښتينی سړی دی، نو ځکه هر پېرودونکی (مشتري) د ده له هټۍ سودا اخلي.
- اتل د نهم ټولګي يو تکړه زده کوونکی دی.
- ما هغه ته يو ليک لېږلی دی، خو ده لا ځواب نه دی راکړی.
- ما دغه کتاب دوې مياشتې مخکې پېرودلی و او اوس مې بشپړ لوستلی دی .
- احمد، اتل او پاڅون زما کشران ورونه دي .دوی ټول پر ما ګران دي .
- دا يو ښکلی ځای دی .هر ډول زرغون نيالګی پکې پيدا کېږي.
- په پای کې هر څه ښه کېږي .که ښه نه شول، نو لا پای نه دی .
- درناوی د هغو لپاره نه ديچې وړ يې نه وي، بلکې د هغو لپاره، چې لياقت يې لري.
- زموږ ښوونکی ډېر پتمن سړی دی .هر څوک يې درناوی کوي .
- حکومت بايد جدي ګامونه پورته کړي او د بډې (رشوت) مخنيوی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ي - اوږده يا (e):

۱: دغه ې د ځينو ښځينه نومونوډېر ګړی(مونث جمع) لپاره چې په ه پای ته رسېدلي ويراځي لکه :

**يو ګړی(مفرد).....ډېر ګړی(جمع)**

ښځه .................. ښځې

منه ...................... منې

غوښه .......................غوښې

بېلګه .................. بېلګې

۲ : د ښځينه نومونو دويم اکر(حالت ) لپاره چې له * د * او...* ته *سربلونو سره وکارول شي لکه:

- د بېلګې په توګه
- د دغې ونــې شاخونه
- د منې اوبه ګټورې دي.
- هغې ښځـې تـه مې څه وويل .
- دې ونـې ته اوبه ورکړه.

**۳ : د هغه ستاينومونولپاره چې د ښځينه نومونو د ډېر ګړي لپاره کارول کيږي لکه :**

- ❖ ښکلې ښځې، خوږې منې، ژېړې کيلې، سرې غوښې، ښې بېلګې، خوندورې شيبې...
- ❖ د هغو نرينه ستاينومونو لپاره، چېښځينه بڼه يې له کړونو (فعلونو) څخه منځ ته راغلي وي، يواځې په ې راځي:

**نرينه – ښځينه**

منلی – منلې

کړېدلی – کړېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځورېدلی – ځورېدلې
پېښېدونکی – پېښېدونکې
زړه وړونکی – زړه وړونکې
سوځېدونکی – سوځېدونکې

**۴ : د هغه ښځینه نومونو لپاره چې د کړنې کړونو (فعلونو) نه مینځ ته راشي لکه:**

**یوه** زده کونوکې
**یوه** څېړونکې
**یوه** شنونکې
**یوه** خرڅوونکې
**یوه** ګاډی چلوونکې

۵ : همدارنګه د هغو کړونو په پای کې، چې کړند (فاعل) یا مفعول پورې اړه لري او هغه ښځینه یوګړی (مفرد او مونث ) وي ,لکه :

- ما دغه خبره نه ده کړې ځکه( دلته" کړې "یو فعل دی، چې په اوږده ې لیکل شوی، دا چې خبره ښځینه مفرد دی )
- ګلالۍ نن ښوونځي ته نه ده راغلې دلته" راغلې "یو فعل دی، چې په اوږده ې لیکل شوی داځکه چې ګلالۍ ښځینه مفرد دی)

۶: "دې " نومځري( ضمیر /pronoun) لپاره :

- دې یو اړیکنومځری (relative pronoun) دی، چې یوې کړنې ته اشاره کوي، چې د دویم کس یوګړی ( ته /you) لخوا ترسره شوې وي یا پخپله د " ته " استازیتوب کوي.
- همدارنګه " دې " ښځینه ځاني نومځری دی، چې په تېرمهال کې کارول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سربېره پر دې " دې" د نغوتې (اشارې ) نومځري په توګه کارول کېږي .

**بېلګې :**

* دا **دې** ولې وکړ؟ (یانې تا دا کار ولې وکړ)

* د **دې** سیمې خلک ښه نه دي .(دلته د اشارې نومځری)

* **دې** ماته وویل، چې راشه (دې یانې کوم ښځینه وګړي)

**یادونه** :همدارنګه اوږده ي په نورو دوو اړیکنومځرو" مې " او" یې "کې راځي.

**۷: په ځینو نومونو کې د غږ له مخې :**

کې

چې

ولې(why)

داسې/ همداسې/همغسې

چېرې/ چېرته

هسې

پکې

هېواد

هېرول

انټرنېټ

څېړل

پرېښودل

باندې

لاندې

ډېر

پېژندل

لېږل

پرېښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناستل
شمېره
پرې
یوازې (فقط/only)
یواځې (تنها/alone)
بېل
بېلابېل
بېلول
بېلتون
مخکې
وړاندې
در/ور/راپسې
کېږي/ لګېږي/ کېدل او نور هغه وييونه چې په ېږي پای ته رسېږي، لومړۍ (یا) یې اوږده( ې) وي.
کېدای شي
مېله
پېښنه
اغلې (ښځه)
تېز
مېز (table)
هېڅ/ هېڅکله/ هېڅوک
بلکې
ګنې
لیرې (ورایه /far)
په ځینو شمېرو کې لکه درې، دېرش، څلوېښت، شپېته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېلگې :**

۱ : تاسو ته له خوښې ډکې شپېې غواړم.

۲ : د نیکریزو په شپه ډېرې ښځې زموږ مېلمنې وې .

۳ : هغه ماته په دې اړه یو څو بېلگې راکړې، نو بیا پرې ښه پوه شوم.

۴ : د دغې سیمې خلک د اوبو له کمې سره مخامخ دي .

۵ :ماته د هغې کور معلوم دی .

۶ : دغې خبرې ته باید د ټولو پام راوگرځول شي.

۷ : په بازار کې سمسورې مېوې راغلې وې، لکه خوږې سرې منې، پخې ژېړې کیلې او سورچکې مندتې.

۸ : ښایسته خلک هغه وي، چې تل ښکلې او اغېزمنې خبرې کوي .

۹ : زموږ کمپنۍ د تېر کال په پرتله ډېرې پاینښتې گټې وکړې.

۱۰: ملاله یوه خواریکښه زده کوونکې ده .ددې مور یوه ښوونکې ده او د کابل په خوشال خان لېسه کې لوست ورکوي.

۱۱: اغلې ملکه د سیاسي چارو شنونکې ده.

۱۲: زه په کابل کې اوسېدل غواړم، دا چې کابل زما د خوښې ځای دی .

۱۳ :هغه له ډاره ډېرې خبرې ونه کړې.

۱۴: له هلکانو سره سمېدېږې نجونې راغلې وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ي - څرګنده یا (i)

۱: د کړونو (فعلونو) په اوړون کې، چې په اوسمهال کې وي اوکړند (فاعل) یې درېیم کس یو/ډېر ګړی ( هغه او هغوی) وي، لکه:

- هغه کار کوي/هغوی کار کوي
- احمد دلته نه راځي
- د هغه پلار چای څښي

**۲ : د ځینو نرینه نومونو ډېرګړی (جمع) په پای کې راځي، چې یوګړی (واحد) یې په نرمه ی پای ته رسېدلی وي:**

**یو ګړی ............... ډېرګړی**

ملګری ..................... ملګري

سړی ....................... سړي

منګی ....................... منګي

زېری ....................... زېري

مزی ......................... مزي

### ۳: د نرینه ستاینومنو (صفتونو ) ډېرګړي په پای کې :

- زموږ ملګري تل بریالي راځي ( بریالی دلته ستاینوم دی او دا چې ملګري ډېر او نرینه دي، نو بریالي لیکلی کیږي)
- زموږ هېوادوال مېړني خلک دي (مېړنی دلته ستاینوم دی او دا چې هېوادوال ډېر او نرینه دي، نو مېړني لیکلی کیږي)

۴ : د نرینه یوګړیز نومونو اوښتي اکر ( حالت) کې راځي، چې د او ته سربلونه ورسره وي یا په تېرمهال کې راځي، لکه :

**اصلي اکر ............... :اوښتی اکر**

ننګیالی ................ ننګیالي ته / د ننګیالي

سړی ..................... د سړي/ سړي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوسمهال ....................... تېرمهال**

توريالی هغه وژني ......... توريالي هغه وواژه

زمری غرځنئ خوري ... زمري غرځنئ وخوړه

**۵ : له ستيانومونو څخه منځته راوړل شويو نومونو په پای کې:**

**ستاينوم .................. نوم**

خوشال .................. خوشالي

خوښ ...................... خوښي

ناروغ ..................... ناروغي

**۶ : په ځينو وييونو کې د غږ له مخې:**

بريد/ بريدگر

ليکل/ليکنه

نيول

ليدل/ليد/ليدنه

د هغه کړونو(فعلونو) په" آخر "کې، چې* ېږي *پای ته رسېدلي وي، لکه کيږي، لګيږي، سوځيږي....

ځيگ

پيشو

سوېلي او شمالي ( د ستاينومونو په توگه)

اړين

وينښ

مينځل

هغه نومونه چې په* يزه *يا* يز * پای ته رسيږي لکه لسيزه، سليزه، مانيز، شپږيزه، څلوريزه، سولييز، سيمييز

مينه ( د عشق په معنا)

هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلېدل
ټينګ
شين
خيرن
ټپي
ډولي( ښايسته)
پير
ځير
توپير

**بېلګې:**

۱( ډېر ملګري هر څوک لرلای شي، خو يو پکې تر ټولو نژدې وي.
۲( ما تاته دوه زېري راوړي دي .يو بد دی او بل ښه.
۳ ( ده ته خدای دوه ښکلي ماشومان ورکړي دي.
۴ ( بريالي خلک تل له نورو سره مرسته کوي.
۵ ( د هغه بچي ډېر ناوزلي دي .په مينه يې لوی کړي دي.
۶ ( توريالي ننګيالي ته وويل، چې دلته راشي.
۷ ( هغه ژوند بې مانا دی، چې خوښي او خوشالي پکې نه وي .
۸ ( د هغه ناروغي رنځپوهانو نه شوه نومېرلې .
۹ ( تر هغې وروسته هغوی بيا دلته نه دي راغلي.
۱۱( تر ډوډۍ خوړلو مخکې بايد هر انسان لاسونه پاک ومينځي .
۱۲( روژه نيول پر هر روغ مسلمان فرض دی.
۱۳ ( کله چې يو څوک يوه اړينه ليکنه وکړي، نو وروسته بايد يو ځل پرې ښه تېر شي، چې وړې تېروتنې پکې سمې کړي.
۱۴ ( ګڼ شمېر وسله لرونکي بريدګر د ښار ستر بانک ته ننوتلي دي.
۱۵ ( که دا کار نه کېږي، نو پرېږده يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ۍ : لکۍ واله یا ( əy) :**

**۱ : د ځینو ښځینه نومونو یوګړي په پای کې :**

ډوډۍ / خولګۍ / نړۍ / لړۍ

**۲ : د هغو نومونو ډېرګړي په پای کې، چې یوګړی یې یا په ي یا په ۍ پای ته رسېدلی وي:**

**یوګړی ...................... ډېرګړی**

خوشالي .................. خوشالۍ

ناروغي .................... ناروغۍ

زاري ......................... زارۍ

نړۍ ........................... نړۍ

لړۍ ........................... لړۍ

**یوه استثنا :**نجلۍ – نجونې

**همدارنګه** د پورتنیو نومونو په اوښتي اکر) مفهوم حالت (کې، چې" د "ورسره ملګری وي

**اصلي حالت ...... اوښتی حالت**

خوشالي .......... د خوشالۍ شپې

ناروغي ........ د دغې " ناروغۍ لامل څه دی

۳: هغه ستاینومونه...

**هغه ستاینومونه، چې په * یالی* وروستاړي پای ته رسېږي، د هغوی ښځینه بڼه په ښځینه ۍ پای ته رسېږي .**

**نرینه بڼه ...... ښځینه بڼه**

بریالی ......... بریالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



توریالی ....... توریالۍ
ننګیالی ........ ننګیالۍ
بښیالی .......... بښیالۍ ( ډولي)

**هغه ستاینومونه، چې" یوازې "په نرمه ی پای ته رسیږي، د هغوی ښځینه بڼه * ډېری * په اوږده ې پای مومي، خو ځینې بیا په لکۍ واله (ۍ) لیکل کیږي .**

لومړی ډله:

**نرینه بڼه – ښځینه بڼه**

نری – نرۍ
کوچنی- کوچنۍ
ګلالی- ګلالۍ
ژوندی- ژوندۍ
لومړی – لومړۍ
ننني – نننۍ

**د هغو ستاینومونو ښځینه بڼه، چې له سربلونو ، لکه لاندې، باندې، پورته، بهر، برنی (...) څخهمنځته راغلي وي، یوازې په( ۍ) پای مومي .پورته ځینې بېلګې راغلې هم دي .**

**نرینه بڼه – ښځینه بڼه**

یوازېنی – یوازېنۍ
باندېنی – پاندېنۍ
لاندېنی – لاندېنۍ
بهرنی – بهرنۍ
منځنی – منځنۍ
پورتنی – پورتنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



برنی – برنۍ
دننی – دننۍ

۴ : په نورو نومونو کې:
نجلۍ
ځولۍ (جولۍ)
خولۍ
خولګۍ
نړۍ
ډوډۍ
ګولۍ
مرۍ
کېږدۍ
ماڼۍ
خوبانۍ ( مندته)
سيلۍ
هيلۍ ( بتکه )
هوسۍ (deer)
غالۍ
ګېډۍ
بېنډۍ
لنډۍ
لکۍ
مرغۍ
سپوږمۍ
هګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د نجونو نومونه لکه :ګلالۍ، ملالۍ، خوبانۍ، اوړۍ، دورخانۍ، ګلمکۍ ...
- د یو ځای ښځینه اوسېدونکی :کابلۍ، پېښورۍ، یوسفزۍ، کندهارۍ...

**یادونه** :لکۍ واله ی، لکه همزؤواله( ئ)، هېڅکله د ویي په منځ یا پیل کې نه راځي .

**بېلګې**:

۱ (د کرېکټ د سیالیو لړۍ تر راتلونکې میاشتې وغځېده.
۲ (په نړۍ کې ډېر هېوادونه شته، چې خلکو ته یې هره ورځ ډوډۍ نه رسېږي.
۳ (خدای دې زموږ د ملت ډېرې خوښۍ او خوشالۍ په برخه کړي.
۴ (ددغې ناروغۍ لامل نومېږنه ډاکټرانو ته ناشونې برېښي.
۵ (اتل هره ورځ سره خولۍ پر سروي .
۶ (هغه د ستوني ډاکټر ته لاړ، ځکه چې مرۍ یې خوږېدې .ډاکټر ده ته ښې ګولۍ ورکړې.
۷ (د غره پر سر مې له جانان سره یوه کېږدۍ جوړه کړه .
۸ (ما ډنډ ته یو څو ټوټې وچه ډوډۍ وشړله، چې هیلۍ یې وخوري.
۹ (ډېرې زارۍ مې ورته وکړې، خو زما خبره یې ونه منله.
۱۰ (پر هغه باندې زما ګېډۍ ګېډۍ سلامونه وایه.
۱۱ (په پښتو ژبه کې ډېرې خوږې لنډۍ پیدا کېږي .
۱۲ (د میوند ملاله به زموږ په زړونو کې ژوندۍ وي.
۱۳ (دومره یوه ښکلې او کوچنۍ نجلۍ ما بل چېرته تر اوسه نه وه لیدلې.
۱۴ (هغه لومړۍ شمېره بیا راوښیه.
۱۵ (زموږ پروژه بریالۍ شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ئ – همزؤاله یا (əy):

- دا په کړونو(فعلونو) کې راځي، چې کړند (فاعل) يې دويم کس ډېرګړی (تاسو) وي او د پوښتنې په بڼه وي، لکه:

تاسو څه کوئ؛ هلکانو تاسو کله راغلئ؟

- **همدارنګه** همزواله (ئ) په بولیو ( امرونو) کې راځي، چې ډېرو تنو ته وي، لکه : ماشومانو راځئ ډوډۍ وخورئ؛ ملګرو دلته راشئ او کېنئ

**يادونه** :همزواله (ئ )هېڅکله د ويي (لغت) په منځ يا پيل کې نه راځي.

**بېلګې :**

١ ( ګرانو هېوادوالو راځئ، چې په ګډه سره خپل هېواد اباد کړو.

٢ ( ورونړو !مهرباني وکړئ، ځوړ مه کوئ او غلي کېنئ.

٣ ( تاسو چې کله راورسېدئ، نو ماته زنګ ووهئ.

۴ ( ښوونکي خپلو زده کوونکو ته وويل ":غلي شئ او ښه غوږ ونيسئ"!

۵ ( ټول راشئ او له ما سره په دې کار کې مرسته وکړئ!

۶ ( احمده، اتله او پاڅونه، تاسو چېرې تللي وئ؟

٧ ( هلکانو، تاسو ولې دلته بې له پرېښې ( اجازې) راغلئ؟ بل ځل ته بايد پوښتنه وکړئ او اجازه واخلئ.

٨ ( پلار" :بچو تاسو لږ دلته راشئ، زه څه درته ويل غواړم ." !

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نرمه ی او که اوږده ې:**

- ننګیال یو ډاکټر دی او د دهٔ ښځه یوه ښوونکې/ ښوونکی ده .
- نن له موږ کره پاتې/ پاتی شه.
- اباسینه، ژوندی/ ژوندې اوسې.
- ته ولې دلته راغلې/ راغلی؟
- اجمل دلته نه دی/دې راغلی/راغلې.
- ښاغلی/ ښاغلې ځلاند په ښوونځي کې یو ښوونکی/ښوونکې دی .
- نجیب یو غښتلی/ غښتلې سړی/ سړې دی.
- هغه ډېرې خبرې/خبری کړې/کړی دي.
- اوږده ې هغه یا ده، چې لاندې/لاندی باندې/ باندی ټکي لري.
- هغه موږ ته غوږ نه و نیولی/ نیولې.
- پسرلی/ پسرلې هغه ښپرکی دی/دې، چې ګلان پکې/ پکی راشنه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نرمه ی او که لکۍ واله (ښځینه ) ۍ:**

- ښوونځی/ ښوونځۍ د رڼا کور دی.
- هغه لومړی/لومړۍ خبره بیا تکرار کړه!
- تا د لوړو زده کړو لپاره کوم پوهنځی/پوهنځۍ غوره کړی/کړۍ دی.
- راځئ، چې ډوډی/ ډوډۍ وخورو!
- هغه ډېر خواشینی/ خواشینۍ شو.
- هغه ډېر خوابدی شو، چې کله یې د خواشینی/خواشینۍ خبر ترلاسه کړ.
- ګلالی/ګلالۍ ښکلې نجلی/ نجلۍ ده.
- دا یوه سپینه زمری/ زمرۍ ده.
- پسرلی/ پسرلۍ هغه ځپرکی دی، چې ګلان پکې راشنه کیږي.
- ماته لږه پسرلنی/ پسرلنۍ مېوه راوړه.
- پورتنی/ پورتنۍ کتاب او پورتنی/ پورتنۍ کتابچه راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکۍ واله ۍ او که همزواله ئ:**

- راشئ/راشۍ، چې مړۍ/مړئ وخورو.
- تاسو دلته څه کوئ/ کوۍ؟
- په نړئ/ نړۍ کې ډول ډول پښتونه ( نژادونه ) ژوند کوي.
- زما په بې خبرۍ/ خبرئ کې يې دغه کار وکړ.
- دا ليکنه بايد تاسو ټول ولولئ/ ولولۍ!
- مهرباني وکړئ/وکړۍ، دلته کېنئ/کېنۍ!
- د ده کور په هره کوټه کې يوه ستره غالۍ/ غالئ پرته ده.
- پر دې وړوکي سړک دومره ستره لارۍ/ لارئ نه شي تللی.
- د هغه لور لکه چې ناروغه ده .ډېره نرۍ/نرئ برېښي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د - دې - ده - دی - دي

### د :

:د تول یا ملکیت سربل (preposition) دی، چې د انګرېزي له of سره سمون خوري .

بېلګه:

د احمد کور په هغه کوڅه کې دی.

زه د هغه ورور یم.

### دې :

یو اړیکنومځری (relative pronoun) دی، چې یوې کړنې ته اشاره کوي، چې د دویم کس یوګړی(ته) you / لخوا ترسره شوې وي یا پخپله د "ته "you/استازیتوب کوي .همدارنګه" دې "ښځینه ځاني نومځری دی، چې په تېرمهال کې کارول کیږي .سربېره پر دې" دې "د نغوتې(اشاري) نومځري په توګه کارول کیږي .

**بېلګې :**

- دا دې ولې وکړ؟ ( یانې تا دا کار ولې وکړ)
- د دې سیمې خلک ښه نه دي (دلته د اشارې نومځری)
- دې ماته وویل، چې راشه ( دې یانې کوم ښځینه وګړې)

### ده:

دا په دوو بېلابېلو معناوو کارول کیږي:

لومړۍ :د ول) پارسي :بودن او انګرېزي (be ښځینه بڼه ده .لکه :ګلالۍ درنه ده .

دویمه :په تېرمهال کې د" هغه" (نرینه بڼه) پر ځای راځي .لکه :ده ماته وویل، چې راشه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دی:

دا د" ده "په څېر په دوو بېلابېلو معناوو کارول کېږي:

**لومړۍ** :د ول (پارسي بودن او انګرېزي be )نرینه بڼه ده .لکه :احمد تکړه هلک دی.

**دویمه** :په اوسمهال کې د" هغه" (نرینه بڼه) پر ځای راځي .لکه :دی دلته نه راځي .

## دي:

د ول ( پارسي :بودن او انګرېزيbe ) نرینه او ښځینه بڼې ډېرګړی (جمع) لپاره:

١ (ډېر هلکان راغلي دي

٢ (ډېرې ښځې راغلې دي

٣ (هغوی خوښ دي

## دې – دی – ده – دي تمرین: سمه بڼه په نښه کړئ!

- دوی راغلي دي/دی او ښه خوشاله دي/دی.
- ګلالۍ خواشینې دې/ده .
- احمد ښه هلک دی/دي .له نورو سره جنګ نه کوي.
- دا خبره دې/دي څه لپاره وکړه؟
- په انځور کې محمود دی/دې او په خوا کې یې ورسره لوڼه ناستې دي/دی .
- دا خبره یې نه ده/دې کړې .
- اوس اوړی دی/دې، نو ګرمي ډېره ده/دې.
- که دې/دي خوښه وي، نو هلته به لاړ شو.
- دا زما ملګري دي/دې .یو احمد نومېږي او بل اتل.
- په دې/دي اړه ستا څه لید دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کومو حالتونو کې د نرينه او ښځينه نومونو بڼې او نومځري (ضميرونه) لږ بدلېږي؟

### لکه ی پر ي اوړي يا ه پر ې او يا هم ې/ي پر و .

**"د " سربل ( حروف پشين/preposition)**

ياد سربل تول يا ملکيت څرګندوي او د نرينه يا ښځينه نومونو بڼه بدلوي، که هغه يوګړی (واحد) وي او که ډېرګړی (جمع).

بېلګې:

- د ژمي ساړه هر څوک نه شي زغملی .(دلته ژمی پر ژمي بدل شوی، داځکه چې" د "سربل يې مخته ولاړ دی)
- د دغې ونې پاڼې لا شنې شوې نه دي. (دلته ونه پر ونې بدل شوی، داځکه چې" د "سربل يې مخته ولاړ دی)
- د هغې ښايست بېساری دی .(دلته هغه، چې ښځينه نومځری دی، پر هغې بدل شوی، دا مخته يې" د "ولاړ دی)
- د ډېرو سړيو په اند ښځې کم ارزښته دي. (دلته سړي، چې د سړی جمع ده، پر سړيو بدل شوی، دا چې" د "سربل يې مخته ولاړ دی)
- نن د مورنيو ژبو نړيواله ورځ ده . (دلته مورنۍ ژبې پر مورنيو ژبو بدل شوی، دا چې" د "سربل يې مخته ولاړ دی)

**يادونه** :په ډېرګړي) جمع (کې د ښځينه او نرينه نومونو بڼې دواړه پر" و " بدلېږي، لکه څنګه چې په وروستيو دوو جملو کې راغلي.

### "ته "سربل ( انګرېزي to) :

دا يو مفعولي سربل دی، چې لوری څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم د" د "په ځېر د نرينه يا ښځينه نومونو بڼه بدلوي، که هغه يوګړی (واحد) وي او که ډېرګړی (جمع).

**بېلګې :**

- **دغې ونې ته اوبه ورکړه !** (دلته ونه پر ونې بدللهشوې ده، دا ځکه چې "ته "سربل يې شاته ولاړ دی. که چېرې دغه جمله کې د ډېرو ونو خبره يادونه وکړو، نو بيا " ونې " پر ونو يانې په" و "پای ته رسېږي، څنګه چې مې د لومړي اکر په اخر کې وکړه) .

- **ننګيالي ته مې وويل، چې راشه.** (دلته ننګيالی پر ننګيالي بدل شوی، دا ځکهچې" ته "سربل يې شاته ولاړ دی)

- **هغې ته ورشه** .(دلته هغه ( ښځينه بڼه ) پر هغې بدل شوی، او لامل يې دا دی، چې" ته "سربل يې شاته  ولاړ دی)

## تېرمهال:

په تېرمهال کې هم د نرينه او ښځينه نومونو بڼې او نومځري بدلېږي.

**بېلګې :**

**اوسمهال** : زمری غرڅنۍ خوري.

**تېرمهال:**  زمري غرڅنۍ وخوړه (دلته زمری پر زمري بدل شوی)

**اوسمهال** : نجيبه کالي مينځي.

**تېرمهال:**  نجيبې کالي ومينځل. (دلته نجيبه پر نجيبې بدل شوی)

**اوسمهال:**  هغه (ښځينه چې وي) اوبه څښي.

**تېرمهال:**  هغې اوبه وڅښلې. (دلته هغه پر هغې بدل شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**>>> له نورو سربلونو سره هم د نومونو بڼې بدلیږي .لکه:**
**تر، تر پورې، په.. کې، لپاره، ترشا، تر لاندې، تر منځ .خو ما د دوو ډېر کارېدونکو سربلونو، یانې" د "او" ته "شننه وکړه.**

**کړاو( تمرین ): سمه بڼه په ننبه کړئ!**

- د دغه سړی/سړي په اړه دې څه نظر دی؟
- هغې/ هغه ښځې/ښځه ته ووایه، چې دلته راشي.
- زمري/ زمری یو لوی غرنی غویی ونیوه او ویې خوړ.
- هغه د خوشالي/ خوشالۍ پر مهال هم خوابدی ناست وي.
- په اوړي/ اوړی کې دلته دومره ګرمي نه وي.
- د ژمي/ ژمی لپاره تاوده کالي وپېره.
- ګرم ننګیال و، خوپره یې پر بریالي/ بریالی واچوله.
- دغې ځمکې/دغه ځمکه ته پر سم وخت اوبه ورکوئ.
- توریالي/ توریالی نن په سیالۍ کې ماته وخوړه.
- زه تر یوه بجه/یوې بجې پورې بوخت یم.
- هغه له نجیبه/نجیبې سره ښار ته لاړه.
- په پسرلی/ پسرلي کې ګلان راشنه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "د " او " له " سربلونه :

ډېر خلک ''د'' د ''له'' پر ځای او ''له'' د ''د'' پر ځای کاروي.
د ژبدودیز (ګرامري) لیدلوري له پلوه دواړه په بېلابېلو معناوو او په مختلفو ځایونو کې کارول کېږي.

لومړی باید دا یاد شي، چې سربل څه معنا لري .سربل هغه ویی یا کلیمه ده، چې ډېری د نومونو مخ ته راځي او د لوري او ځای معلومات ورکوي :د، له ...سره، لپاره، ترشا، مخ ته، پر، په...کې، له، باندې، تر منځ. ...

**(د) د تول یا ملکیت سربل (preposition) دی، چې د انګرېزي له of سره سمون خوري.**

**بېلګه:**

- د احمد کور په هغه کوڅه کې دی.
- د دې واټ نوم باچاخان دی.

**د اړیکه هم ښیي:**

- ننګیال د هغه ورور دی .
- د هغه مور ناروغه ده.

"له" په څو حالتونو کې راځي، خو په ټولیز ډول لوری یا پلو څرګندوي .
سربېره پر دې یاد سربل د مهالي، ځایي او اړیکې/تړاوي کړول (قید

(c) ketabton.com: The Digital Library



/adverb)په توګه کارول کيږي .همدارنګه يو لامل او يوه استثنا هم څرګندولی شي .

**د لوري څرګندونه :**

- **له ... څخه** :هغه له کابل ځخه راغی.
- **له ... خوا** :باد له دغې خوا راځي .

**د ځانګړي ځای څرګندونه:**

- **د .. له سره** :د غره له سره ټول ښار ليدل کيږي.
- **د .. له پاسه** :د بام له پاسه د باران د څاڅکو غږ اوريدل کيږي.

**د ځانګړي مهال څرګندونه:**

- **له ... وروسته** :له غرمې وروسته راشه.
- **له ... راهيسې** :له ۲۰۱۰ کال راهيسې زه په کابل کې ژوند کوم.

**د اړيکې/تړاو او اړوندتوب څرګندونه:**

- **له ... سره** :زه له هغه سره ښار ته ځم.
- **له ... سره سم** :له ژمنې سره سم مې دغه کار تر سره کړ.
- **له ... سره سره** :له ډېرو خوړو سره سره دی ښوونځي ته لاړ.

**د لامل/ کبل څرګندونه :**

- دی د ناڅاپي پېښېدونکې ناروغۍ **له لامله** ومړ.
- د زده کوونکو د ځوږ (شور) **له کبله** ښوونکی له ټولګي (کلاس) لاړ.
- ستا **له لاسه** ټول کارونه خراب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استثنا څرګندونه :**

- **له ...پرته** :له دې پرته بله حللار نشته.

**په ځينو ويناوو يا کړونو کې لکه :**

- له څه لاس اخيستل
- له کاره وتل
- له ياده وتل
- له چا بد راتلل

## تمرين :سمه بڼه په نښه کړئ!

١ (زه پرون د امريکې نه راغلم.
١ (زه پرون له امريکې څخه راغلم.
٢ (لوبغاړي توپ له دغې خوا راوشاړه.
٢ (لوبغاړي توب د دغې خوا نه راوشاړه.
٣ (دا د دوی کور دی.
٣ (دا له دوی کور دی.
۴ (الوتکې د وارو له پاسه الوزي.
۴ (الوتکې د وارو د پاسه الوزي.
۵ (له يو کال راهيسې مې ته نه يې ليدلی.
۵ (د يو کال راهيسې مې ته نه يې ليدلی.
۶ (د غرمې نه وروسته درسره وينم.
۶ (له غرمې وروسته درسره وينم.
٧ (زه د خپلو ملګرو سره په چکر ځم.
٧ (زه له خپلو ملګرو سره په چکر ځم.
٨ (د دغه کتاب نه پرته، نور مې نه خوښيږي.
٨ (له دغه کتاب پرته، نور مې نه خوښيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کړ اوړون (فعلي ګردان /conjugation )

په پښتو کې هر کړ( فعل) په لام" ل "پای ته رسېږي.

**نومځری (ضمير )......پای:**

زه ........................ م لکه :زه ځم

ته ........................ ې لکه :ته ځې

هغه ...................... ي لکه :هغه ځي

موږ........................ و لکه :موږ ځو

تاسو ..................... ئ لکه :تاسو ځئ

هغوی .................... ي لکه :هغوی ځي

## يادونه :

هغه کړونه ، چې په "**ول**" پای ته رسېږي، لکه خوښول،کول او داسې نور، د هغوی اوړون " **موږ** " نومځري لپاره په دوو " **و** " راځي

بېلګه :

- موږ خوښوو
- موږ کوو

کړ اوړون تمرين :

لاندېني کړونه خپلو نومځرو سره سم واړوئ:

کول:

زه:

ته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه:

مونږ:

تاسو:

هغوی:

نیول:

زه:

ته:

هغه:

مونږ:

تاسو:

هغوی:

تلل :

زه:

ته:

هغه:

مونږ:

تاسو:

هغوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدل:

زه:

ته:

هغه:

موږ:

تاسو:

هغوی:

مینځل:

زه:

ته:

هغه:

موږ:

تاسو:

هغوی:

لرل:

زه:

ته:

هغه:

موږ:

تاسو:

هغوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بېګانو کومه بڼه په لاندېنیو بېلګو کې سمه ده؟

ګرانو لوستونکو، په دې درس کې تاسو ته یو تمرین برابروو، چې د ټولو بېګانو سمه کارونه زده کړئ .لاندېني متنونه زما لخوا ژباړل شوې کیسې دي، چې ټولې بېګانې پکې کارول شوې دي .تاسو باید هڅه وکړئ، چې په نښه سویو وییونو کې سمه بڼه په ګوته کړئ .
**سم ځوابونه یې د کتاب په وروستیو پاڼو کې ترلاسه کولي شئ .**

**لومړۍ کیسه :**
یو وخت یو هلک و، چې/چي شپون و او د مېږو رمه یې/یي بووله او څارله .
یوه ورځ دغه هلک له ډېرو/ډیرو څارلو ستړی/ستړې شو او زړه یې/یي تنګ شو، نو یوه انده(مفکوره) یې/یي ذهن ته ورغله، چې/چي راځه، دا کلیوال د یوې/یوي ټوکې په موخه په یو چل وغولوم .ده په لوړ غږ دا چیغې/چیغي وهلې " :اې خلکو مرسته وکړئ/وکړی، لېوه راپسې/راپسي دی، لېوه راپسې/راپسي دی/دئ ."
کله چې/چي یې کلیوالو غږ واورېد، نو په بیړه یې هلک ته ورمنډې کړې/کړي .
کلیوال چې وروړسېدل/وروړسیدل او له ده یې وپوښتل چې لېوه چېرته/چیرته دی/دي.
دی/دې خټ خټ له خندا ورته شین شو او ورته ویې ویل، چې تاسو ټول وغولېدئ/وغولېدی او ما هسې/هسي تېر/تیر ایستلئ .

څو ورځې/ورځي وروسته دغه شپون هلک دغه چل بیا تکرار کړ او د مرستې/مرسته غوښتو نارې یې پیل کړې .کله چې کلیوال په چټکۍ/چټکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ورته راورسېدل او ويې ليدل/لېدل، چې دغه هلک دوی/دوئ بيا وغولول، نو ډېر/ډير ورته په ځاځ (غوسه )شول.

يو څه مېش ( وخت) وروسته يو لېوه ددغه هلک رمې/رمي ته راګډ شو او دده پر مېږو بې برید/برېد وکړ .شپون هلک له ډاره د کلي/کلی پر لوري منډې وکړې او د مرستې چيغې يې ووهلې/ووهلي.
دا ځل يې کليوالو داسې انګېرل، دغه هلک به ورسره بيا د تېرو/تيرو دوو ځلو په څېر يو چل کوي/کوی، نو ورنغلل .کله چې هلک کلي/کلی ته راورسېد او کليوال يې سم خبر کړل، نو د رمې ژغورلو لپاره يې په ګډه ورمنډې کړې .
هغوی/هغوئ چې وررسېدل، نو مېږې ټولې/ټولي مړې/مړي پرتې/پرتي وې .

پند :يو څوک چې ډېر ځله دروغ ووايي/ووايی ، نو رښتيا خبره يې هم دروغ ګڼل کېږي/کيږي .
سرچینه :اسلامي موقعو شبکه – د پند کيسې

**دويمه کيسه:**

يوه ورځ يو ځوان سړی/سړي د ښار په منځ کې/کي ولاړ و او خلکو ته يې ويل، چې/چي دی په دغه سيمه کې/کي تر ټولو ښکلی/ښکلې زړه لري/لری .
ډېر خلک ورته راټول شول او د دغه سړي/سړی زړه يې ستايه، ځکه چې بشپړ و .نه پکې/پکي ټکي ول او نه پکې/پکي کومې تېروتنې/تېروتني برېښېدې .دوی/دوئ ټولو دده اند تاييد کړ او دا يې ومنله، چې دومره ښکلی/ښکلې زړه يې تر اوسه چېرته/چيرته نه و ليدلی .نوموړي/نوموړی ځوان په دې/دي شېبه/شيبه ډېر/ډير وياړ وښود او ځان يې لا ښايه .
په ناڅاپي ډول په دېلارغه( لحظه) يو زوړ سړی په دې خلکو کې/کي راښکاره شو او دې ځوان سړي/سړی ته يې وويل " :ستاسو د زړه ښايست دومره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی/دي لکه زما د زړه چې/چي څومره دی/دي ".نوموړي/نوموړی ځوان او هغو نورو خلکو ددغه بوډا سړي زړه ته ځیر شول.
هغه (د زوړ سړي زړه)سخت ګړبېده، خو له داغونو ډک و، دا چې ځینې/ځیني وړې/وړي برخې/برخی لیرې شوې وې/وي او ځینې/خیني نورې زړې/زړي تشې په نورو نوکې یو پوښول شوې/شوي وې/وي .خو هغوی/هغوئ سره سمون نه خوړ او ځینې/ځیني ګوټونه (کونجونه) یې شلېدلي/شلېدلی ول .همداراز یې زړه ځینې/خیني دچې ( وړې کندې ) درلودې .

خلکو په ځیر ځیر ورته وکتل او له ځانونو سره یې دا اندل ( فکر کاوه)، چې دغه بوډا څنګه داسې انګېرلی شي، چې دده زړه د هغه ځوان سړي تر زړه ډېر ښکلی دی.
دغه ځوان سړي په دې/دي شېبه دغه بوډا سړي پوري/پوری وخندل او ورته ویې ویل :چې ټوکه خو به نه کوې/کوي، تاسو څنګه خپل زړه زما له زړه سره پرتله کوئ/کوی .ستاسو خو ګڼوډ او له داغونو ډک دی/دې او زما هغه کامل دی/دې.

زوړ سړي ځواب ورکړ :هو ستاسو زړه روغ او بشپړ ښکاري، خو هېڅکله/هیڅکله به خپل زړه ستا پر زړه ورنکړم .زما د زړه هر داغ د یوه انسان لپاره دی، چاته چې ما مینه/مېنه ورکړې .زه مې/مي له زړه یوه ټوټه راغوځوم او دوی/دوئ ته یې ورکوم او کله نا کله دوی/دوئ هم ماته د خپلو زړونو ټوټې/ټوټي راکوي، چې زما د زړه دا تشې ډکې/ډکي کړي .خو دا چې سم نه ورسره جوړېږي/جوړیږي، نو ځینې/ځیني څنډې یې ځیګې/ځیګي وي .زه هغه بیا هم ارزم، ځکه چې ماته هغه مینه رایادوي، چې موږ به له یو بل سره وېشله/ویشله .کله نا کله مې ځینو ته د زړه ټوټې ورکولې، بې له دې/دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی يې هم راکړي، نو همدا لامل دی، چې زړه مې/مي لږې/لږي کندې او دچې هم لري .مينه ورکول کله نا کله ځان په خطر کې د اچولو معنا هم وي .

که څه هم دغه پرهارونه لا تازه دي/دی او خوږېږي/خوږيږي، بيا هم ماته خپله مينه/مېنه رايادوي، چې هغو وګړو سره مې/مي لرله .زه هيله/هېله لرم، چې يوه ورځ به دوی/دوئ بېرته راشي/راشی او زما د زړه ټولې تشې ډکې کړي .زاړه ورپسې/ورپسي زياته کړه :ښه نو اوس پوه شوې/شوی، چې آره (اصلي) ښکلا د يو زړه څه ته وايي/وايی؟

هغه ځوان سړی غلی ولاړ و او پر مخ يې اوښکې رابهېدې/رابهيدي .هغه دې بوډا ته ورنژدې شو او له زړه يې يوه ټوټه راوشکوله او دې بوډا سړي ته يې ورکړه، چې لږ تر لږه يې يوه تشه ورډکه کړي .

## کله يو واو او کله دوه واوونه ؟

هغه کړونه ، چې " ول " پای ته رسيږي، لکه
کول ، خوښول ، نيول او داسې نور،
له هغوی راوتلي کړند (فاعل) نومونه په "**دوو**" و " ليکلی کيږي لکه:
کوونکی ، خوښوونکی ، نيوونکی

هغه کړونه، چې يوازې په " ل " پای ته رسيږي ( ويل، شنل، لوستل) له دوی راوتلي کړند نومونه په يو" و "ليکل کيږي لکه :
ويونکی ، شنونکی ، لوستونکی

**تمرين :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سمه بڼه پکې په نبنه کړئ!**

١ (کوونکی/ کونکی

٢ (ښوونکی/ ښونکی

٣ (نيوونکی / نيونکی

٣ (شنوونکی/ شنونکی

۴ (څېړوونکی/ څېړونکی

۵ (لېږوونکی / لېږونکی

۶ (هېروونکی / هېرونکی

٧ (منونکی/ منوونکی

٨ (پېرودوونکی/ پېرودونکی

٩ (پلورونکی/ پلوروونکی

١٠ (اخيستونکی/ اخيستوونکی

**لاندېني کړونه نومونو ته واړوئ :**

لکه ځرګندول -کړ ← ځرګندوونکی

**کړ ..................... نوم**

خوښول ............

لرل...................

زده کول...........

وژل..................

ليدل................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډ توپيرونه

## نارينه او نرينه توپير :

نارينه .. نوم دی، چې سړي ته ويل کېږي
نرينه .... ستتاينوم دی او د سړي اړوند معنا ورکوي
بېلګې :
يو څو نارينه راوغواړه.
دا کار د ناريناوو نه دی.

دا نرينه جامې نه دي، بلکې ښځينه ( دلته نرينه يو ستاينوم دی، چې جامو ته نغوته ( اشاره ) کوي
احمد يو نرينه نوم دی ( دلته نرينه احمد ته نغوته کوي)

## زدکړه او زده کړه توپير:

زدکړه: دا د نوم په توګه کارول کېږي او د تعليم معنا ورکوي
زده کړه: دا د زده کولو، چې کړ (فعل) دی، امري بڼه ده او هم يو تن ته د امر کولو مانا لري.

**بېلګې**

په مورنۍ ژبه زدکړه کول د هر انسان حق دی. (دلته د تعليم معنا ورکوي)
که نورو هېوادونو ته تلل غواړې، نو انګرېزي ژبه زده کړه. (دلته د کړ په توګه)

## ځان ته او ځانته توپير :

ځان ته /ځانته: که (ته) وسترېل و، نو بېل دی لکه :زه ځان ته وايم /ځان ته مې جامې جوړې کړې /هر څوک ځان ته رمبی وهی /ته ځان ته کمپاين کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هله ورپسې د وروستاړي غونډې نښلي، چې په ګډه قيد جوړ کړي او د يواځې (تنها، ګوښی )مانا ولري، لکه:
احمد په کور کې ځانته دی /ولسمشر د درغلۍ ضد مبارزه کې ځانته دی /زه ځانته(يواځې)راغلم/هيڅوک يو هېواد ځانته نه شي ابادولای/ما دا کنده ځانته ډکه کړه.

ما دا کوټه ځان ته(د ځان لپاره)جوړه کړه.
ما دا کوټه ځانته(په يواځې ځان) جوړه کړه

## يوازې – يواځې:
يوازې :فقط/ صرف only
يواځې :تنها/ ګوښی alone

## کليزه– کاليزه :
کليزه :جنتري calendar
کاليزه :سالروز anniversary

## پيل – پېل:
پيل :شروع start
پېل :دقيقه minute

## ښيي – ښايي:
ښيي:د ښوولو اوړون دی په اوسمهال کې– د دريم کس لپاره(هغه ښيي)
ښايي: يو کړول (قيد) دی، چې د "کېدای شي" يا ګونډې معنا ورکوي (ښايي زه دا کار وکړم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس – وس :**

اوس :همدا مهالnow/

وس :توانability /

**زه – ځه:**

زه :لومړی تن واحدme– i/

ځه: د "تلل" امري بڼهده یوه کس ته (ځه ، هلته لاړ شه)

**پرخه – پرښه:**

پرخه =شبنم

پرښه =خورا لویه ډبره

**پښه – پخه :**

پښه :د بدن هغه لاندېنۍ برخه چې ورون پرې ولاړ وي او پنځه ګوتې لري.

پخه :د پوخ ښځینه بڼه

**ورونه – ورونږه:**

ورونه :د ور ډېرګړی (جمع) دروازې

ورونږه :د ورور ډېرګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (په) او (پر) توپیر :

دا دواړه سربلونه – prepositions (دي، چېپه بېلو ځایونو کې له بېلو ماناوو سره کارول کېږي.

**پر:**

**لومړی حالت :**

د انګلیسي on او د پارسي " بالای " سره سمون خوري.

- زما کتاب پر مېز (باندې) پروت دی.
- هغهٔ خپل شخولی (بکس) د تونۍ پر سر اېښی دی.

**دویم حالت :**

د نېټو ښرګندؤلو لپاره راځي.

- هغه د کب میاشتې پر ۱۸مه زیږېدلی دی

**دریېم حالت :**

لاملونو ښرګندؤلو لپاره راځي.

- احمد یې پر څه وواهه؟

**څلورم حالت:**

تړاو یا اړوندتوب ښرګندوي.

- زه د پښتو پر پنځه یې ګانو یوه لیکنه کؤم.

**"پر "په ځینو لنډو ویناګیو کې راځي لکه:**

د ..پر بنسټ، ورځ پر ورځ، ګام پر ګام، پر چا ویاړل...

**په:**

**لومړی حالت** :ځای ښرګندوي

- زه په کور کې یم .
- ننګیال په ښار کې اوسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دويم حالت:** مهال يا وخت څرګندوي.

- زه په ۲۰۰۲ کال کې کابل ته راغلم .
- په تېره مياشت کې هغه کور ته لاړ.

**"په "په ځينو لنډو ويناوو کې راځي لکه :**

پۀ دې اړه، په دې ډوَل...

**پر & په تمرين :**

۱ (د بام په/پر سر يې کاشمالي کرلي دي .
۲ (هغه په/پر دې اړه له چا سره نه غږيږي.
۳ (په/پر دې موضوع ستا اند څه دی؟
۴ (په/پر راتلونکې اوونۍ کې راشه.
۵ (د رروانې مياشت په/پر ۲۶يمه به درشم.
۶ (تاسو په/پر څه له ما خوابدي ياست؟
۷ (خپل شخولی( بکس) دې په/پر ځمکه باندې مه پرېږده.
۸ (زه د لغمان په/پر لوري ځمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د په کې / پکې توپير :

### په ..کې:

"په کې " يو سربل (preposition) دی، چې يو ځای ښرګندوي، چې د " چېرته "پوښتنې ځواب وايي .دغه ويی د انګرېزي له in او د دري له " در " سره سمون خوري.

بېلګه :

- زه په کور کې يم.
- احمد په ښوونځي کې دی .
- ننګيال په ښار کې ژوند کوي.

### پکې :

پکې يو کړوَل ( قيد ) دی، چې درې بېلابېلو حالتونو کې راځي :

۱: يو ځای ښرګندوي او له يو ځای سره د اړيکې په توګه کارول کيږي .دغه ويی د انګرېزي له inside سره سمون خوري .

بېلګې:

- ماته هغه کلی خوند راکوي، ځکه چې جانان پـکــې اوسيږي
- هغه کوټه، چې زه پکې ناست وم، ډېره لويه وه.

۲ : پکې "يوې کړنې ته د نغوتې) اشارې (کړوَل په توګه کارول کيږي.

بېلګې:

- احمد په انګرېزي کې تکړه دی، خو  ورور يې پکې ستونزې لري
- هغه څۀ، چې زه پکې کمزورى يم، سوکوهنه ده.

۳ : پکې " کله نا کله د * په اړه *مانا ورکوي.

بېلګې:

- زما خو دغه خبره خوښه شوه .تاسو پکې څه واياست  .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه :**

سربلونه په دوو ډولو وي :

يو خپلواکي وي لکه په، پر، له . ...

بل ناخپلواک وي، چې يوائې نه کارول کيږي لکه څخه، سره، کې...

## په خپله / پخپله توپير:

**په خپله** يو نومځرى دى، چې څښتنوالى/تول څرګندوي او د څيز/شي ښځينه بڼې لپاره راځي لکه :په خپله خاوره سوله غواړم؛ احمد په خپله کوټه کې ناست دى؛

**پخپله** هم يو نومځرى دى، چې د يوکړند(فاعل)په توګه کارول کيږي .دغه ويى د انګرېزي له oneself سره سمون خوري.

بېلګې: زه دغه کار پخپله کوم; احمد پخپله دلته راغى.

## تمرين :

- په خپله/پخپله مورنۍ ژبه کې زدکړه کول د هر وګړي حق او رښته ده.
- له ما څکه غوښتنه وکړه، دا چې په خپله/پخپله يې نه غوښتل.
- هغه په خپله/ پخپله کورنۍ کې له خپلې مور او خور سره ډېره مينه کوي.
- په خپله/پخپله خوله دې وويل، بل چا نه.
- په خپله/پخپله يې دغه کار هم کولى شو، خو د لټوالي له کبله يې پر خپل ورور وکړ.
- دغه ستونزه يوازې ته په خپله/پخپله حلولى شې .
- که په خپله/پخپله خوښه دلته راشې، نو غوره به وي.
- څوک چې په خپله/ پخپله ژبه نه شي غږېداى، نو داسې دى لکه يو بې اروا بدن.
- لومړى يې څه نه ويل، خو بيا يې پخپله/په خپله اقرار وکړ، چې دا کار ده کړى دى.
- هغه ماته وويل، چې زه درپسې درځم، خو زه پخپله/په خپله ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د په خوا / پخوا توپير:**

**په خوا** يو ځايي کړؤل دی، چې يو لوری يا ځای ځرګندوي.

- زه د خپل ملګري په خوا کې ناست يم.
- که په دې خوا راغلې، نو ښه به وي.

**پخوا** يو مهاليز کړؤل دی، چې تېر شوی وخت ځرګندوي او د انګرېزي له in the back daysاو د پارسي له" قبل "سره سمون خوري.

- پخوا به خلکو دغه کار نه کاوه.
- د پخوا په څېر ښه کار نه کوي .

**په خوا او پخوا تمرين :**

- دا خبره يې ماته پخوا/په خوا کړې وه.
- زه د خپل ملګري په خوا/پخوا کې کېناستم.
- پخوا/په خوا به خلکو داسې کول، خو اوس يې دغه کار پرېښی دی.
- هغه تل د خپلې مينې په حوا/ پخوا کې اوسېدل غواړي.
- که په خوا/پخوا دې دې ويلي وای، نو وژلی به يې وای .
- دا ښار ډېر بدل شوی دی .د په خوا/پخوا په څېر نه دی پاتې شوی.
- که زموږ په خوا/پخوا راغلې، نو د يو سلام لپاره راشه.
- په خوانۍ/پخوانۍ کيسې پرېږده – نوې خبرې وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د له خوا / لخوا توپير:**

د ډېرو په اند به دواړه کوم مانيز توپير و نه لري،خو ليكدوديز توپيرد ژبدوديز/گرامري ليدلوري له پلوه دواړې بېلې ماناوې لري.

**له خوا:** «له» سربل د خوا (طرف/لورى) بدرگه كوي.
ياد سربل لورى ځرگندوي، نو له دې جوتېږي، چې «له خوا» د لاندينيو وييكو(كليمو) هممانيزونه دي:
له طرفه/ له يلوه/ له لوري

**بېلگې:**

- گڼې پروژې د نوي وزير له خوا لگيا دي تر سره كيږي.
- دا كار دهغه له خوا تر سره خوا شو.

**لخوا:** دا يؤ سربل دى، چې پۀ مجهوله بڼه (passive case) کې راځي او د يوې ترسره شوې کړنې کړند (فاعل) ځرگندوي، چې پۀ انگرېزي کې ورته by وايي.
**بېلگې:**

- گڼ شمېر گټورې پروژې د نوي وزير لخوا لگيا دي تر سره كيږي.
- دا كار د هغۀ لخوا وشو

**تمرين:**

١. كه زما له خوا/لخوا مرستې ته اړتيا وي، نو چمتو يم.
٢. زما له خوا/لخوا دې تاسې ټولو ته مبارک وي
٣. دا زما له خوا/لخوا يوه تېروتنه شوې ده.
٤. دا پرېكړه د ولسمشر له خوا/لخوا شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. په ښوونځي کې د مدیر له خوا/لخوا د موبایل بندیځ یوه اندپوښتنه تر سره شوه.
٦. باد له دغې خوا/دغې لخوا راغی.
٧. له یوې خوا/یوې لخوا ډېرې ګټې لري.
٨. دا زما له خوا /لخوا تاته ډالۍ.

## د چېرې / چېرته توپیر:

**چېرې** یو لوری/ خوا/اړخ څرګندوي .
کړونه (فعلونه) لکه تلل، روانېدل، منډه وهل، الوتل ... لوری څرګندوي، نو له " چېرې "سره باید وکارول شي.
**بېلګې**:

- احمد چېرې ځي؟( ځي د تلل کړ اوړون دی)
- زه چېرې روان یم .

**چېرته** یو ځانګړی ځای څرګندوي، چې پکې یو څه شتون لري.
کړونه لکه ول (دی، یم، ده...) ، اېښودل، څملاستل، اوسېدل ... یو ځای څرګندوي، نو له " چېرته "سره باید وکارول شي.
**بېلګې** :

- اتل چېرته دی؟
- کتاب دې چېرته اېښی دی؟
- هغه چېرته ملاست دی؟
- تاسو چېرته اوسېږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تمرين :**

- بلاله ته اوس چېرته/چېرې اوسېږې؟
- ته چېرته/چېرې تللی وې، زه درپسې ګرځېدم.
- چېرې/چېرته روان يې؟ که ښار ته ځې، نو زه هم درسره ځم.
- هر چېرته/ چېرې چې وې، خوشاله اوسې.
- زه چې هر چېرته/چېرې تلل وغواړم، نو ځم.
- زويه وګوره، چې ستا پنډوسکی چېرته/ چېرې پروت دی. څوک به يې درنه پټ کړي.
- زه په کټ کې څملم او ته چېرته/چېرې څملې، په کټ کې يا پر ځمکه.
- هغه چېرې/چېرته لاړ؟ ماته يې هېڅ ونه ويل.
- تاسو چېرته/چېرې پاتې کيږئ؟
- خدای خبر، چې هغه به چېرته/چېرې پټ وي .هېڅ يې نه شم پيدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هم داسې /همداسې توپیر:

**همداسې:**

یو کړولیز عبارت دی چې د یو اکر یا کړنې د څرنګوالې په پار کارول کیږي . کېدای شي په هر جمله کې یوه ځانکړې مانا رامنځ ته کړي.

- ته همداسې ښه یې.
- دا همداسې سم دی.
- هغه همداسې لګیا و کار یې کاوه.
- هو، همداسې ده.

له دغو غونډلو دې پایلې ته رسیږو چې د همداسې The way it is/was ژباړه ده.

You are good the way you are.

It is correct/right the way it is.

He was working the way he was.

Yes, it's so/indeed!

**هم داسې:**

یو کړول/ کړولیز عبارت دی چې د همغږۍ په پار کارول کیږي.

- ما ته هم داسې ښکاري چې هغه ښه سړی دی.
- ته هم داسې نااشنا خبرې کوې سړی پرې نه پوهیږي.

له دغو غونډلو دې پایلې ته رسیږو چې د هم داسې ژباړه as well/too ده .

## هم داسې او همداسې تمرین:

- ماته یې هم داسې/ همداسې یوه خبره وکړه.
- هغه ته یې هم داسې/همداسې یو کارټ ورکړ .
- همداسې/ هم داسې نه ده .تاته چا ناسم معلومات درکړي دي.
- ما لومړی هم داسې/ همداسې فکر کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما چې کله خپل اند ورسره ګډ کړ، نو ده وویل، چې بلکل همداسې /هم داسې ده .
- دا ته هم داسې/ همداسې غږېږې، شرمېږې نه؟
- همداسې/ هم داسې تبا ښه دی، چې موږ ته غوږ نه نیسې.

## (که نه) او (کنه) توپیر :

**که نه :**

یو وییز (لغوي) جوړښت دی، چې له **که** اړیکتوری (حروف روابط /conjunction)او **نه** کړول جوړ دی .

یاد جوړښت د هغو پوښتنو په پای کې راځي، چې ځوابونه یې څرګند (هو/نه) وي .

دا د انګرېزي له whether ... or not سره سمون خوري.

- ته زما خبره منې او که نه؟
- هغه کار دې وکړ او که نه؟
- هغه راغلی و او که نه؟

**کنه :**

دغه د تاکید یا ټینګار ویی دی، چې پې لاندېنیو اکرونو (حالتونو )کې کارول کېږي:

**۱ : د همغږۍ او تاییدولو لپاره لکه:**

- هو کنه !ته رښتیا وایې

**۲ : د یوې وینا موخه او مفهوم غښتلی او پیاوړی ( قوي ) کوي:**

- همدا خو غم دی کنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما خو درته ويلي ول کنه !

**۳ : د مقابل لوري موافقې او د ځان ډاډمنولو ( مطمئنولو) په پار کارول کيږي لکه:**

- همداسې ده، کنه؟
- ورځو به، کنه؟
- دا ګرانه ده، کنه؟

**۴ : پوښتنو او مثبت غونډلو کې:**

- ته به ما ته ووايې چې ويې کړم، کنه.

## ستاينومونه په ی/ې/ۍ :

هغه ستاينومونه، چې" يوازې "په نرمه ی پای ته رسيږي، د هغوی ښځينه بڼه * ډېـــــــرى *په اوږده ې پای مومي، خو ځينې بيا په لکۍ واله ۍ ليکل کيږي .

لومړۍ ډله:

**نرينه بڼه ........ ښځينه بڼه :**

ښکلی ............ ښکلې

وړوکی ........... وړوکې

خواشينی ........ خواشينې

تږی ................ تږې

وږی ................ وږې

د هغو نرينه ستاينومونو (چې په ی باندې وي )ښځينه بڼه، چې له کړونو(فعلونو) څخه منځ ته راغلي وي، يوازې په ې راځي:

**نرينه – ښځينه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



منلی - منلې
کړېدلی - کړېدلې
ځورېدلی - ځورېدلې
زړه وړونکی - زړه وړونکې
سوځېدونکی - سوځېدونکې
چاودېدونکی - چاودېدونکې

**دويمه ډله :**

**نرينه - ښځينه**

نری - نرۍ
کوچنی- کوچنۍ
ګلالی- ګلالۍ
ژوندی- ژوندۍ
لومړی - لومړۍ
ننني - ننۍ

د هغو ستاينومونو ښځينه بڼه، چې له سربلونو څخه، لکه لاندې، باندې، پورته، بهر، برنی ... منځته راغلي وي، يوازې په ۍ پای مومي . پورته ځينې بېلګې راغلې هم دي .

**نرينه - ښځينه**

يوازېنی - يوازېنۍ
باندېنی - باندېنۍ
لاندېنی - لاندېنۍ
بهرنی - بهرنۍ
منځنی - منځنۍ
پورتنی - پورتنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



برنی – برنۍ

هغه ستاینومونه، چې په* یالی *وروستاړي پای ته رسیږي، د هغوی ښځینه بڼه په ښځینه ۍ پای ته رسیږي .

نرینه بڼه ...... ښځینه بڼه

بریالی ......... بریالۍ

توریالی ....... توریالۍ

ننګیالی ........ ننګیالۍ

پتیالی ......... پتیالۍ = لوی عزت لرونکی

پاتیالی ......... پاتیالۍ = ناکام

بڼیالی .......... بڼیالۍ = ډولي

پامیالی ........ پامیالۍ= متوجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښتنو ټبرونه :**

هغه نومونه چې په نرمه ی (نرينه ښه) پای ته رسيږي، د هغوی ښځينه ښه په لکۍ واله ی پای مومي:

**نرينه ښه ............ ښځينه ښه**

احمدزی ............ احمدزۍ

اپرېدی ............ اپرېدۍ

يوسفزی ............ يوسفزۍ

همدارنګه نور نومونه،.چې په زی راځي .

**کله په- يځ او کله په- يز:**

نومونه لکه لنډيځ، بنديځ، وړانديځ، ختيځ او لوېديځ په ځ ليکل کيږي او ډېری خلک يې په ز ليکي، څه چې ناسمه ده.

په يز يا ييز يوازې هغه ستاينومونه (صفتونو) ليکل کيږي،.چې له نومونو رغېدلي وي لکه ټولنيز (ټولنه + يز(، سولييز) سوله + ييز)....
دلته بيا کله يز او کله ييز کاروو؟
نوم چې په خپلواک غږ (واول) ه پای ته رسېدلی وي، نو ستاينوم يې بيا ييز ليکل کيږي سولييز، سيمييز . ....
[دا چې ټولنيز ولې په يز ليکو او نه په ييز، سره له دې چې په خپلواک غږ رسيږي، دا يوه استثنا ده]
که نوم په بېواک غږ (کانسېننټ) پای ته رسېدلی وي، نو بيا يې ستاينوم په يز راځي لکه اړخيز، دوديز، غږيز. ...

په دې برخه کې دوه ځانګړي توپيرونه :
ختيځ ..... نوم(east)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختيز ....... ستاينوم(eastern)
لوېديځ ....... نوم(west)
لوېديز ........ ستاينوم(western)

بېلګې:
١ )ددې هېواد په ختيځ کې ګرمي ده او په لوېديځ کې يې ساړه دی.
٢ )ددې هېواد ختيزو سيمو کې ګرمي ده او په لوېديزو سيمو کې ساړه دی.
ستاينوم سره تل نوم وي، چې د هغه حالت او څرنګوالی ټاکي. (سيمې پورتنۍ بېلګه کې نوم دی، چې ستاينوم" ختيز " يې ټاکي)

## ځ:

څنګه
څه
څوک
څو
څومره
څېرل
څانګه
پاڅېدل
هڅه
هېڅ/ هيڅکله
اڅکزی
څوکۍ
څښل(drink)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنباک

څېره

څیز

څار/ څارل

څادر

څخه

څاڅکی

څاڅېدل

څنبتن

سپېڅلی

څوب =شوق

څړیکه

نڅا= ګډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځ:

ځان

ځه = لاړ شه

ځای

ځواب

ځکه

ځمکه

ښځه

منځ/ تر منځ

ځم/ ځې/ ځي/ځوgo/goes

ځانګړی

انځور

ځواک (قوت)

ورځ

ځیني

ځړوبی(waterfall)

ځولۍ

ځار (قربان)

ځلاند

بنځه

اخځ

پنځول (تخلیقول )

لمونځ

لمانځل

مینځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ز:

زما

زه

زړه

زلمی

زده کول

ستونزه

همزولی

یوازې (د فقط/ صرف په مانا)

زوی

زامن

زوم

زاري

زانګو

زنګ

زنګون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښ:**

ښایسته

ښه

ښکلی

ښودل

پښتو

پوښتنه

ښکته ( کوز)

پېښه

رښتیا

خوښ/ خوښول

ښخول(burry)

پښه (foot)

ښاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ړ:**

ړيره

ړمنځ(comb)

ړلۍ

لړ

لوړه

تړۍ

وړۍ

اوږه(shoulder)

هوږه(garlic)

خوړ

کوړ/کږه

ليړل

تيږه

پرېړده (د پرېښودلو په مانا)

موږ

زموږ

غړ

غوړ

موږک

کيږي/ جوړيږي/هېريږي نومونه چې په - ېږي پای ته رسيږي:

کيږي، خوښيږي، رسيږي، مړيږي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژ:

ژر(soon)

ژبه

ژړا

خېژي/ خېژم(climb)

ژوند/ ژوندون

ژور

ژېړ

ژاوله (gum)

ژوبل(heavy wounded)

ژمنه– وعده

ژی– د اوبو ژی

ژئ –خندہ

ژبهی – زلمی

ژرنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ڼ :**

منڼه

باڼه

پاڼه

رڼا/روڼ

ګڼ

کوڼ

شکوڼ

بڼ(باغ)

بڼه (شکل /form)

ښېګڼه

سپڼ(يو ډول غنړ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سم ځوابونه ، کړاوونه :

نرمه ی او که اوږده ي:
۱ (ننګيال يو ډاکټر دی او د دهٔ ښځه يوه" ښوونکې "ده .
۲ (نن له زموږ کره" پاتې "شه.
۳ (اباسنه،" ژوندی اوسې."
۴ (ته ولې دلته" راغلې "؟
۵ (اجمل دلته نه" دی راغلی."
۶" (ښاغلی "ځلاند په ښوونځي کې يو" ښوونکی "دی .
۷ (نجيب يو" غښتلی سړی "دی.
۸ (هغه ډېرې" خبرې کړې "دي.
۹ (اوږده ې هغه يا ده، چې" لاندې باندې "ټکي لري.
۱۰ (هغه موږ ته غوږ نه و" نيولی."
۱۱" (پسرلی "هغه ښېرکی" دی"، چې ګلان" پکې "راشنه کيږي .
۱۲ (زرين په روژه کې ډېر" تږی "کيږي او خور يې ډېره" وږې "کيږي.

**نرمه ی او که لکۍ واله ( ښځينه )ۍ:**
۱" (ښوونځی "د رڼا کور دی.
۲ (هغه" لومړۍ "خبره بيا تکرار کړه) !خبره ښځينه نوم دی
۳ (تا د لوړو زده کړو لپاره کوم" پوهنځی "غوره" کړی "دی.
۴ (راځئ، چې" ډوډۍ "وخورو!)
۵ (هغه ډېر" خواشينی "شو.)
۶ (هغه ډېر خوابدی شو، چې کله يې د" خواشينۍ "خبر ترلاسه کړ.)
۷" (ګلالۍ "ښکلې" نجلۍ "ده.)
۸ (دا يوه سپينه" زمرۍ "ده) .يوه او ده ښځينه نومونو ته اشاره کوي)
۹! (پسرلی " هغه ښېرکی دی، چې ګلان پکې راشنه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ (ماته لږه" پسرلنۍ "مېوه راوړه ( .مېوه ښځينه نوم دی)
۱۱ (پورتنی "کتاب او" پورتنۍ "کتابچه راکړه .
( کتاب نرينه او کتابچه ښځينه نوم دی)

**اوږده ي او که لکۍ واله ې:**

۱ (نغمه ډېره" خواشينې "له ښوونځي راغله.
۲ (د" خواشينۍ "پر مهال د قرآن تلاوت کول زړه ته سکون ورکوي.
۳ (هغه" وروستۍ " خبره بيا تکرار کړه .
۴ (هغه ماته" درې "منې راکړې .
۵" (بريالۍ "ښځې تل د خپلو بچو يه روزنه کې پراخه ونډه اخلي.
۶ (په" پورتنۍ "جمله کې يوه تېروتنه ده .هغه بايد سمه" کړې."
۷" (ملالۍ "دلته" راغلې "ده.
۸ (د هغې" جينۍ "سترګې ډېرې" غلچکۍ "دي.
۹ (راځئ، چې" ډوډۍ "وخورو!
۱۰ (په عراک کې داعش ډلې يوه ښځينه" جنګيالۍ "نيول شوې .

**لکۍ واله ې او که همزواله ئ:**

۱" (راشئ"، چې" مړۍ "وخورو.
۲ (تاسو دلته څه" کوئ" ؟
۳ (په" نړۍ "کې ډول ډول پښتونه) نژادونه (ژوند کوي.
۴ (زما په" بې خبرۍ "کې يې دغه کار وکړ.
۵ (دا ليکنه بايد تاسو ټول" ولولئ!"
۶ (مهرباني" وکړئ"، دلته" کېنئ!"
۷ (د ده د کور په هره کوټه کې يوه ستره" غالۍ " پرته ده.
۸ (پر دې وړوکي سړک دومره ستره" لارۍ "نه شي تللی.
۹ (د هغه لور لکه چې ناروغه ده .ډېره" نرۍ "برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ (د هغې کشره خور کله هم په ازموینو کې نه" پاتیالۍ " کیږي .

**لومړۍ کیسه :**

یو وخت یو هلک و،" چې "شپون و او د میږو رمه" یې "بووله او څارله .یوه ورځ دغه هلک له" ډېرو "څارلو" ستړی "شو او زړه" یې "تنګ شو، نو یوه انده) مفکوره" (یې "ذهن ته ورغله،" چې "راځه، دا کلیوال د" یوې "ټوکې په موخه په یو چل وغولوم .ده په لوړ غږ دا" چیغې "وهلې " :اې خلکو مرسته" وکړئ"، لېوه" راپسې "دی، لېوه" راپسې" "دی .""
کله" چې "یې کلیوالو غږ واورېد، نو په بیړه یې هلک ته ورمنډې" کړې ."
کلیوال چې" وروورسېدل "او له ده یې وپوښتل، چې لېوه" چېرته" "دی."
" دی "خېټ خېټ له خندا ورته شین شو او ورته ویې ویل، چې تاسو ټول "وغولېدئ "او ما" هسې "تېر "ایستلئ .

څو" ورځې "وروسته دغه شپون هلک دغه چل بیا تکرار کړ او د" مرستې " غوښتو نارې یې پیل کړې .کله چې کلیوال په" چټکۍ "سره ورته راورسېدل او ویې" لیدل"، چې دغه هلک" دوی "بیا وغولول، نو" ډېر "ورته په ځاځ (غوسه) شول.

یو څه مېش (وخت) وروسته یو لېوه ددغه هلک" رمې "ته راګډ شو او دده پر میږو بې" برید "وکړ .شپون هلک له ډاره د" کلي "پر لوري منډې وکړې او د مرستې چیغې یې" ووهلې."
دا ځل یې کلیوالو داسې انګېرل، دغه هلک به ورسره بیا د" تېرو "دوو ځلو په څېر یو چل کوي/کوی، نو ورنغلل .کله چې هلک" کلي "ته راورسېد او کلیوال یې سم خبر کړل، نو د رمې ژغورلو لپاره یې په ګډه ورمنډې کړې .
'هغوی "چې وررسېدل، نو میږې" ټولې مړې" "پرتې "وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پند :یو څوک چې ډېر ځله دروغ" ووايي "، نو رښتیا خبره یې هم دروغ ګڼل "کیږي ."

**دویمه کیسه:**

یوه ورځ یو ځوان" سړی "د ښار په منځ" کې "ولاړ و او خلکو ته یې ویل، "چې "دی په دغه سیمه" کې "تر ټولو" ښکلی "زړه" لري ."ډېر خلک ورته راټول شول او د دغه" سړي "زړه یې ستایه، ځکه چې بشپړ و .نه" پکې " ټکي ول او نه" پکې "کومې" تېروتنې "بربېښېدې" .دوی "ټولو دده اند تایید کړ او دا یې ومنله، چې دومره" ښکلی "زړه یې تر اوسه" چېرته "نه و لیدلی . "نوموړي "ځوان په" دې" "شېبه "
"ډېر "ویاړ وښود او ځان یې لا ښایه .
په ناڅاپي ډول په دې لارغه(لحظه)کې یو زوړ سړی په دې خلکو" کې " راښکاره شو او دې ځوان" سړي "ته یې وویل " :ستاسو د زړه ښایست دومره نه" دی "لکه زما د زړه" چې "څومره" دی "."نوموړي "ځوان او هغهنورخلک ددغه بوډا سړي زړه ته ځیر شول.
هغه (د زوړ سړي زړه) سخت ګړبېده، خو له داغونو ډک و، دا چې" ځینې " "وړې" "برخې "لیرې شوې" وې "او" ځینې "نورې" زړې "تشې په نورو نویو پوښول شوې/شوي" وې ."خو" هغوی "سره سمون نه خوړ او" ځینې " ګوټونه (کونجونه) یې" شلېدلي "ول .همداراز یې زړه" ځینې "دچې (وړې کندې) درلودې .خلکو په ځیر ځیر ورته وکتل او له ځانونو سره یې دا اندل (فکر کاوه)، چې دغه بوډا څنګه داسې انګېرلی شي، چې دده زړه د هغه ځوان سړي تر زړه ډېر ښکلی دی.

دغه ځوان سړي په" دې "شېبه دغه بوډا سړي" پورې "وخندل او ورته ویې ویل :چې ټوکه خو به نه" کوې"، تاسو څنګه خپل زړه زما له زړه سره پرتله "کوئ ."ستاسو خو ګډوډ او له داغونو ډک" دی "او زما هغه کامل" دی."

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړه سړي ځواب ورکړ :هو ستاسو زړه روغ او بشپړ ښکاري، خو" هېڅکله " به خپل زړه ستا پر زړه ورنکړم .زما د زړه هر داغ يو انسان لپاره دی، چاته چې ما" مينه "ورکړې .زه" مې "له زړه يوه ټوټه راغوڅوم او" دوی "ته يې ورکوم او کله نا کله" دوی "هم ماته د خپلو زړونو" ټوټې "راکوي، چې زما د زړه دا تشې" ډکې "کړي .خو دا چې سم نه ورسره" جوړېږي"، نو" ځينې " څنډې يې" ځيګې "وي .زه هغه بيا هم ارزم، ځکه چې ماته هغه مينه رايادوي، چې موږ به له يو بل سره" وېشله ."کلهj
کله نا کله مې ځينو ته د زړه ټوټې ورکولې، بې له" دې "چې دوی يې هم راکړي، نو همدا لامل دی، چې زړه" مې" "لږې "کندې او دچې هم لري .مينه ورکول کله نا کله ځان په خطر کې د اچولو په مانا هم وي .که څه هم دغه پرهارونه لا تازه" دي "او" خوږېږي"، بيا هم ماته خپله" مينه "رايادوي، چې هغو وګړو سره" مې "لرله .زه" هيله "لرم، چې يوه ورځ به" دوی "بېرته "راشي "او زما د زړه ټولې تشې ډکې کړي .زاړه" ورپسې "زياته کړه :ښه نو اوس پوه شوې/شوی، چې آره (اصلي) ښکلا د يو زړه څه ته" وايي"؟
هغه ځوان سړی غلی ولاړ و او پر مخ يې اوښکې" رابهېدې ."هغه دې بوډا ته ورنژدې شو او له زړه يې يوه ټوټه راوشکوله او دې بوډا سړي ته يې ورکړه، چې لږ تر لږه يې يوه تشه ورډکه کړي .

## کړ اوړون تمرين :

کول:

زه :کوم

ته :کوې

هغه :کوي

موږ :کوو

تاسو :کوئ

هغوی :کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیول:
زه :نیسم
ته :نیسې
هغه :نیسي
موږ :نیسو
تاسو :نیسئ
هغوی :نیسي

**تلل :**
زه :ځم
ته :ځې
هغه :ځي
موږ :ځو
تاسو :ځئ
هغوی :ځي

**رسېدل:**
زه :رسیږم
ته :رسیږې
هغه :رسیږي
موږ :رسیږو
تاسو :رسیږئ
هغوی :رسیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مینځل:**

زه :مینځم

ته :مینځې

هغه :مینځي

موږ :مینځو

تاسو :مینځئ

هغوی :مینځي

**لرل:**

زه :لرم

ته :لرې

هغه :لري

موږ :لرو

تاسو :لرئ

هغوی :لري

**د یو واو او دوو واوونو تمرین :**

۱ (کوونکی

۲ (ښوونکی

۳ (نیوونکی

۳ (شنونکی

۴ (څېړونکی

۵ (لیږونکی

۶ (هېروونکی

۷ (منونکی

۸ (پېرودونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ (پلورونکی
۱۰ (اخیستونکی

**لاندېني کړونه نومونو ته واړوئ:**

کړ ..................... نوم
خوښول ............. خوښوونکی
لرل .................. لرونکی
زده کول ............ زده کوونکی
وژل .................. وژونکی
لیدل ................ لیدونکی

**په خپله او پخپله تمرین :**

۱ (په خپله مورنۍ ژبه کې زدکړه کول د هر وګړي حق او رښتیا ده.
۲ (هغه له ما څکه غوښتنه وکړه، دا چې پخپله یې نه غوښتل.
۳ (هغه په خپله کورنۍ کې له خپلې مور او خور سره ډېره مینه کوي.
۴ (په خپله خوله دې وویل، بل چا نه.
۵ (پخپله یې دغه کار هم کولی شو، خو د لټوالي له کبله یې پر خپل ورور وکړ.
۶ (دغه ستونزه یوازې ته پخپله حلولی شې .
۷ (که په خپله خوښه دلته راشې، نو غوره به وي.
۸ (څوک چې په خپله ژبه نه شي غږېدای، نو داسې دی لکه یو بې اروا بدن.
۹ (لومړی یې څه نه ویل، خو بیا یې پخپله اقرار وکړ، چې دا کار ده کړی دی.
۱۰ (هغه ماته وویل، چې زه درپسې درځم، خو زه پخپله ورغلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په خوا او پخوا تمرین :**

۱ (دا خبره يې ماته پخوا کړې وه.
۲ (زه د خپل ملګري په خوا کې کېناستم.
۳ (پخوا به خلکو داسې کول، خو اوس يې دغه کار پرېښی دی.
۴ (دا ډېر پخوانی انځور دی.
۵ (هغه تل د خپلې مینې په حوا کې اوسېدل غواړي.
۶ (که پخوا دې ويلي وای، نو وژلی به يې وای .
۷ (دا ښار ډېر بدل شوی دی .د پخوا په څېر نه دی پاتې شوی.
۸ (که زموږ په خوا راغلې، نو د یو سلام لپاره راشه.
۹ (پخوانۍ کیسې پرېږده – نوې خبرې وکړه!
۱۰ (دا کار يې پخوا کړی که اوس؟

**له خوا او لخوا تمرین:**

۱ (که زما له خوا څه مرستې ته اړتیا وي، نو چمتو یم.
۲ (زما له خوا دې تاسو ټولو ته اختر مبارک وي.
۳ (دا پرېکړه ولسمشر لخوا وشوه.
۴ (زما لخوا یوه تېروتنې شوې ده.
۵ (په ښوونځي کې د مدیر لخوا د موبایل بندیځ یوه اندپوښتنه ترسره شوه .
۶ (باد له دغې خوا راغی.
۷ (له یوې خوا ډېرې ګټې لري او له بلې خوا زیانونه هم .

**چېرې او چېرته تمرین :**

۱ (بلاله ته اوس چېرته اوسېږې؟
۲ (ته چېرې تللی وې، زه درپسې ګرځېدم.
۳ (چېرې روان يې؟ که ښار ته ځې، نو زه هم درسره ځم.
۴ (هر چېرته چې وې، خوشاله اوسې.
۵ (زه چې هر چېرې تلل وغواړم، نو ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ (زویه وګوره، چې ستا پنډوسکی چېرته پروت دی .څوک به يې درنه پټ کړي.
۷ (زه په کټ کې څملم او ته چېرته څملې، په کټ کې يا پر ځمکه.
۸ (هغه چېرې لاړ؟ ماته يې هېڅ ونه ويل.
۹ (تاسو چېرته پاتې کېږئ؟
۱۰ (خدای خبر، چې هغه به چېرته پټ وي .هېڅ يې نه شم پيدا کولی .

**هم داسې او همداسې توپيرونه:**

۱ (ماته يې هم داسې يوه خبره وکړه.
۲ (هغه ته يې هم داسې يو کارټ ورکړ .
۳ (همداسې نه ده .تاته چا ناسم معلومات درکړي دي.
۴ (ما لومړی هم داسې فکر کاوه.
۵ (ما چې کله خپل اند ورسره ګډ کړ، نو ده وويل، چې بلکل همداسې ده .
۶ (دا ته هم داسې غږېږې، شرمېږې نه؟
۷ (همداسې تبا ښه دی، چې مور ته غوږ نه نيسي .

**دې – دی – ده – دي تمرين:**

۱ (دوی راغلي دي او ښه خوشاله دي.
۲ (ګلالۍ خواشينې ده .
۳ (احمد ښه هلک دی .له نورو سره جنګ نه کوي.
۴ (دا خبره دې څه لپاره وکړه؟
۵ (په انځور کې محمود دی او په خوا کې يې ورسره لونه ناستې دي .
۶ (دا خبره يې نه ده کړې .
۷ (اوس اوړی دی، نو ګرمي ډېره ده.
۸ (که دې خوښه، نو هلته به لاړ شو.
۹ (دا زما ملګري دي .يو احمد نومېږي او بل اتل.
۱۰ (په دې اړه ستا څه ليد دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د" د "او" له "سربلونو تمرین:**

۱ (زه پرون له امریکې څخه راغلم.
۲ (لوبغاړي توپ له دغې خوا راوشاړه.
۳ (دا د دوی کور دی.
۴ (الوتکې د وارو له پاسه الوزي.
۵ (له یو کال راهیسې مې ته نه یې لیدلی.
۶ (له غرمې وروسته درسره وینم.
۷ (زه له خپلو ملګرو سره په چکر ځم.
۸ (له دغه کتاب پرته، نور مې نه خوښېږي.
۹ (موږ له هغه ملاتړ کوو.
۱۰ (زه له تاسو ټولو مننه کوم.

**د نومونو د اوښتي حالت تمرین:**

۱ (د دغه سړي په اړه دې څه نظر دی؟
۲ (هغې ښځې ته ووایه، چې دلته راشي.
۳ (زمري یو لوی غرنی غویی ونیوه او ویې خوړ.
۴ (هغه د خوشالۍ پر مهال هم خوابدی ناست وي.
۵ (په اوړي کې دلته دومره ګرمي نه وي.
۶ (د ژمي لپاره تاوده کالي وپېره.
۷ (ګرم ننګیال و، خو پړا پر بریالي وروتړله.
۸ (دغې ځمکې ته پر سم وخت اوبه ورکوئ.
۹ (توریالي نن په سیالۍ کې ماته وخوړه.
۱۰ (زه تر یوې بجې پورې بوخت یم.
۱۱ (هغه له نجیبې سره ښار ته لاړه.
۱۲ (په پسرلي کې ګلان راشنه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوم:noun - [noom]**

د څیزونو، ځایونو، انسانانو او طبعیت نومونه :لمر، لاس، سړی، پنډوسکی، کابل، لندن، احمد، باران ....

**کړ:[karr] -verb**

هغه وییونه، چې کړنې او پېښې څرګندوي .کړ ته مهالویی هم ویل کېږي، دا چې له مهالونو سره اړول کېږي .

بېلګې :کول، راوړل، وهل، لمبېدل، رسېدل، خوړل، څښل ....

**کړول:adverb - [karrwal]**

د څنګه، کله، څومره او چېرې/چېرته پوښتنو ځوابونه ورکوي لکه :هلته، دلته، په بیړه، په تېزۍ سره، هیڅکله، نن، مخکې...

**نومځری:pronoun - [nomzaray]**

د نومونو استازي دي :زه، موږ، هغه، دا، دی، هغوی، ماته، ما، تا، زموږ، زما، ستاسو، د هغه، مې/یې/دې...

**سربل :preposition - [sarbal]**

د لوري او ځای معلومات ورکوي :

له ...سره، لپاره، ترشا، مخ ته، پر، په...کې،

باندې، تر منځ...

**ستاینوم:adjective - [staaynoom]**

د تشریح او څرنګوالي نومونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوړ، بېخونده، له کاره وتلی، ورو، تېز، ښکلی، ستر، وړوکی، هیلمن، سولییز، ځايي، هوايي...

**اړيکتوري**:conjunctions – [arreektoree]

غونډلې (جملې (سره تړي :او، ځکه، خو، که، چې، کله چې، دا چې، نو، سره له دې چې....

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ویپانګه:

[wayay] ویی word:

[weyoona]وییونه words:

[ghonddala]غونډله sentence:

[zhaba]ژبه language:

[yaw-garray]یوګړی singular:

[dder-garray]ډېرګړی plural:

[nogay]نوږی gender:

[nareena]نرینه male:

[hadzeena]ښځینه female:

[toray]توری letter:

[toree]توري letters:

مفعول obejct:

[karrnd]کړند subject:

پای end:

پایونه ebdings:

بڼه (شکل) form/shape:

مومل find:

پېرودونکی buyer:

پلورونکی Seller:

بډې bribe:

مخنیوی prevention:

زیارکښ Diligent/hard-working:

پتمن respected/honourable:

(c) ketabton.com: The Digital Library



guess:اټکل

week:اوونۍ

effective:اغېزناک

moment:شېبه

example:بېلګه

use:کارول

usage:کارونه

representation:استازيتوب

Likewise:همدارنګه/ همداراز

sustainable:پایښتي (دوامداره)

opinion:اند

Imagination:واند

contents:منځپانګه

stage:پوړتال

about:په اړه

regaeding/related:اړوند

teacher:ښوونکی[howoonkai]

teacher f.:ښوونکې[howoonke]

strong:پیاوړی / غښتلی

school:ښوونځی[howandzai]

faculty:پوهنځی

sad:خواشینی / خوابدی

race:پښت

races:پښتونه

training:تمرين

brave:توريالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



relation or contact:اړیکه
except:له ...پرته
reason:لامل/ کبل
player:لوبغاړی
airplane:الوتکه[alwataka]
since:له ...راهیسې
reader:لوستونکی
fast:چټک/ تېز
difference:توپیر[tawpeer]
translation:ژباړه
agreement:همغږي
insistence:ټینګار
exam:ازموینه
famous:نومیالی
rule:قاعده
obvious:جوت / څرګند
dependant:خپلواک
independant:ناخپلواک
modus:څرنګوالی
drinking:څښاک
thing:څیز
follow or observe:څارل
holy:سپېڅلی
skin:څرمن
public prosecution:څارنوالي
movement:خوځښت
innovation:نوښت[nawakht]
bright:ځلاند
reference:اخځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځليکونه


- پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار ، پښتو پښويه ، دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور ، ۲۰۰۵ م کال .
- محمد اسماعيل يون . پښتو ليکنی (پوهندوی علمي رتبې لپاره) سمون ، يون کلتوري يون ، کابل ، ۱۳۸۷ ل کال .
- پوهنوال محمد صابر خويشکي، پښتو وييپوهنه او غږپوهنه ، صميم خپرندويه ټولنه ، کابل ، ۲۰۰۵م کال .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**